بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

دیارلسم کال، یوسلو اته څلویښتمه ګڼه د ۱۳۹۸ کال د تلې میاشت


# تکمیل موفقانۀ برنامه اقتصادی د افغانستان بانک با صندوق بین المللی پول



**هموطنان گرامی!**

پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است! به همین منظور، از **همه افغانها تقاضا** بعمل میآید تا در خرید فروش های اقتصادی از پول افغانی استفاده نمایند.

## د افغانستان بانک خبرتیا!

د مخکینی خبرتیا په تعقیب، د افغانستان بانک یو ځل بیا درنو هېوادوالو ته خبر ورکوي چې په مرکز او یو شمېر ولایتونو کې ځینې وګړي لا هم د فورکس د آنلاین سوداګرۍ په نوم مالي معاملې ترسره کوي. د افغانستان بانک تر اوسه هیڅ وګړي یا شرکت ته د فورکس آنلاین فعالیتونو جواز صادر کړی نه دی او د هغوی فعالیتونه غیر قانوني دي. له کومه چې د دغو وګړو او شرکتونو سره معاملې بې خطره نه دي او د هېوادوالو لپاره مالي زیانونه رامنځ ته کوي، له درنو هېوادوالو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې د دا شان وګړو او شرکتونو سره له معاملو څخه ډډه وکړي.

د افغانستان بانک په هڅه کې دی چې هغه وګړي چې دا شان فعالیتونه ترسره کوي، وپېژني او عدلي او قضایي ارګانونو ته یې معرفي کړي.

## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوري و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی



آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af



شمارهٔ ثبت: ۶۵۸


www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+

## د دې ګڼې مطالب


پذیرش در ACCA، دستاورد دیگری از د افغانستان بانک

تکمیل موفقانهٔ برنامه اقتصادی د افغانستان بانک با صندوق بین المللی پول

د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو په اړه ملي کنفرانس

ملاقات هیئت افغانستان با رئیس عمومی صندوق بین المللی پول

اشتراک هیئت رهبری د افغانستان بانک در اجلاس سالانه صندوق بین المللی پول و بانک جهانی

گفتمانی با چند تن از استادان جامعه اکادمیک

د مالي پوهې لوړولو او مقطعي پانګې د لېږد په اړه غونډه

پذیرش د افغانستان بانک منحیث کارفرما در ACCA

تر راتلونکو ۵ کلونو د بانکدارۍ په برخه کې ۸ نوې ټکنالوژۍ راتلونکې دي

نقش بانکداری الکترونیکی در توسعه اقتصاد

کوچنی سوداګري او د پیل لپاره یې ګټورې لارښوونې او کړنلارې

اقتصادي خبرونه

د افغانستان بانک عملیاتي کړنوته څغلنده کتنه

اقتصاد نوین جهانی

د هېواد پر اقتصاد د بېکارۍ اغېزې

اهداف عمدهٔ تدویر نمایشگاه های اقتصادی

د فارمونو اقتصادي ارزښت

په هېواد کې د کرنیز سکتور څلور کلن مزل

په هېواد کې د نوري فایبر پراختیا او دهغې ګټې



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.
استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

سرمقاله

# پذیرش در ACCA، دستاورد دیگری از د افغانستان بانک

د افغانستان بانک بعد از تکمیل یک سلسله شرایط و معیارهای تعیین شده از سوی ACCA، سند کارفرمای قبول شده این انجمن بین المللی را بدست آورد.

د افغانستان بانک طی کمتر از دو دهۀ گذشته در جهت ارتقای سطح دانش حرفه ای و مسلکی کارمندان این بانک از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نورزیده است.

راه اندازی کورس های کوتاه مدت در بخش های مالی، محاسبه، تکنالوژی معلوماتی و اقتصاد؛ فراهم آوری برنامه های آموزشی در مورد سایر موضوعات بانکی در داخل و خارج کشور، ایجاد انیستیتیوت بانکی و مالی برای افزایش سطح دانش بانکی و مالی کارمندان دولت، زمینه سازی تحصیلات عالی به مقاطع لیسانس و ماستری در داخل و خارج از کشور را میتوان نمونه های بارز در این جهت عنوان کرد.

د افغانستان بانک با این همه، سعی نمود تا کارمندان این بانک را با دانش روز جهانی عیار نماید تا آنها بتوانند امور کاری را هر چه بهتر و بوجه احسن انجام دهند. در این میان داشتن سند ACCA برای کارمندان د افغانستان بانک در بخش های مانند، محاسبه، حسابررسی داخلی، نظارت و بخش های تحقیقات علمی کار بسیار مهم پنداشته می شد که زمینه آموزش در این مورد نیز برایشان آماده گردید.

حصول مدرک معتبر حسابداری و امور مالی، فُرصت دستیابی به اهداف شغلی بدون پیشینه کاری، روش منعطف برای مطالعه و آموزش، مدرک حسابداری بین المللی مرتبط نیازهای ملی و بین المللی، مدرک با اهمیت و با اعتبار نزد سازمان های معتبر و روش جدید در آموزش و ارزیابی حسابداری که توسط جدید ترین تکنالوژی حمایت می شود، از مزایایی این سند معتبر محسوب می شوند.

# تکمیل موفقانۀ برنامه اقتصادی د افغانستان بانک با صندوق بین المللی پول



د افغانستان بانک برنامه تسهیل تمدید کریدت (ECF) را با عملی نمودن شرایط و بدست آوردن اهداف آن موفقانه به پایه اکمال رساند.

در ششمین و آخرین نشست میان دولت افغانستان و صندوق بین المللی پول در این زمینه که در شهر دبی از تاریخ ۱۱ الی ۱۸ میزان سال روان دایر گردیده بود، هیئت د افغانستان بانک تحت ریاست محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک و هیئت کارشناسان صندوق بین المللی پول تحت ریاست کرستوفر دوینالد اشتراک کرده بودند.

در این نشست که به ادامه پنج نشست قبلی برگزار گردیده بود، روی وضعیت اقتصادی و چشم انداز آن، وضعیت سکتور بانکی، نرخ تورم، نرخ مبادله ، شاخص های پولی (پول در گردش و پایه پولی) و میزان ذخایر خالص ارزی بحث های مفصل و همه جانبه صورت گرفت.

در کنار بدست آوردن اهداف در سکتور بانکی، د افغانستان بانک توانسته است اهداف مقداری این برنامه را موفقانه عملی کند. در مدت مورد نظر نرخ تورم پائین، نرخ مبادله با وجود چالش های داخلی و منطقوی از ثبات نسبی خوبی برخوردار بوده، شاخص های پولی ( پایه پولی و پول در گردش) نسبت به سقف پائین بوده و ذخایر خالص ارزی نه تنها بالاتر از هدف تعیین شده بوده، بلکه در هژده سال گذشته به بلند ترین سطح خود رسیده است.

هیئت صندوق بین المللی پول از کارکرد های د افغانستان بانک در برنامه ECF ستایش بعمل آورده، عملکرد آنرا در اجرای شرایط و عملی نمودن اهداف در شرایط دشوار و چالش برانگیز افغانستان موفق خوانده اظهار داشت که موقف رسمی خویش را پس از مشوره با هیئت اجرائیوی رسماً از طریق صفحه انترنتی خویش بیان خواهند داشت.

توقع میرود که هیئت اجرائیوی صندوق در این زمینه در ماه دسمبر ۲۰۱۹ بحث کند و مبلغ ۵.۳۸ میلیون SDR معادل ۷.۴ میلیون دالر را به افغانستان اعطا کند که پرداخت های مجموعی از طریق این برنامه بالغ به ۳۲.۳۸ میلیون SDR معادل ۴۴.۴ میلیون دالر به افغانستان خواهد گردید.

# د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو په اړه ملي کنفرانس

کابل، د ۱۳۹۸ کال د تلې ۹ مه – د افغانستان بانک له لوري په افغانستان کې د اسلامي بانکدارۍ او مالي خدمتونو (( فرصتونه او ننګونې)) په اړه ملي کنفرانس جوړ شو.

په دې کنفرانس کې چې د افغانستان بانک پرسرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر سربېره د دې بانک د اسلامي بانکدارۍ د عمومي آمریت مسئولینو، د هېواد یو شمېر جیدو علماوو، د پوهنتونونو استادانو، د اسلامي بانکونو د شرعي کمېټو غړو او استازو هم ګډون کړی وو، د اسلامي بانکدارۍ په وړاندې د فرصتونو او ننګونو په اړه هر اړخیز علمي بحثونه وشول.

په یاد کنفرانس کې د افغانستان بانک سرپرست ښاغلي واحدالله نوشېر یادونه وکړه چې د دې کنفرانس د جوړېدو موخه د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې د عامه پوهاوي رامنځته کول او په دې اړه د علماوو د نظرونو راټولول دي.

نوموړي د خپلو خبرو پر دوام د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې د افغانستان بانک د لاسته راوړنو په اړه له ګډونوالو سره معلومات شریک کړل او یادونه یې وکړه چې په دې وروستیو کې د دې بانک په اډانه کې د اسلامي بانکدارۍ ځانګړې

»



آمریت رامنځته شوی دی. د افغانستان بانک سرپرست زیاته کړه چې په هېواد کې د لومړي ځل لپاره یو بشپړ اسلامي بانک ته د فعالیت جواز ورکړل شوی او دا بانک ژمن دی چې په دې برخه کې به لا زیات پرمختګونه رامنځته کړي.

ښاغلي نوشېر د غونډې له ګډونوالو هیله وکړه چې د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې له د افغانستان بانک سره همکار و اوسي او خلکو ته په دې اړه د جوماتونو د منبرونو له لارې عامه پوهاوی ورکړي.

وروسته د افغانستان بانک د اسلامي بانکدارۍ لوی آمر ښاغلي ډاکتر یوسف سلیم د غونډې ګډونوالو ته د اسلامي بانکدارۍ د تاریخچې او موخو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او یادونه یې وکړه چې د افغانستان بانک په هېواد کې د اسلامي بانکدارۍ د دودېدو لپاره خپل لومړني ګامونه پورته کړي او په دې برخه کې به ډېر ژر نور پرمختګونه هم رامنځته شي.

د یادونې وړ ده چې د دې کنفرانس تر پرانیستې غونډې وروسته درې نورې علمي غونډې هم جوړې شوې چې په هره غونډه کې د غونډې د پرمخ وړونکي سربېره د وتلو علماوو او پوهانو څلور کسیزه ډلې وې چې د اسلامي بانکدارۍ د بېلابېلو برخو په اړه یې د غونډې ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل.

په دې کنفرانس کې ویناوالو د افغانستان بانک له مشرتابه مننه وکړه چې د اسلامي بانکدارۍ د دودېدو لپاره هڅې کوي. دوی ژمنه وکړه چې د هېواد ټول وتلي عالمان او پوهان به د افغانستان بانک سره اوږه په اوږه د دې بانکدارۍ د دودېدو لپاره کار کوي.

د یادونې وړ ده چې په دې کنفرانس کې د عدلیې وزارت مرستیال ښاغلي محمد قسیم حلیمي، د پوهنې وزارت استازي ښاغلي استاد محمد صیقل، د پوهنتون استاد محمد ایاز نیازي، د دین عالم ښاغلي عبدالسلام عابد، ښاغلي ډاکتر محمد قسیم منصور، ښاغلي شریف الله ابراهیمي، ښاغلي ډاکتر مصطفي نیازي، ښاغلي ډاکتر حمیدالله نورعباد، ښاغلي ډاکتر عبدالله لودین، ښاغلي ډاکتر سراج الحق هلال یاسیني او ښاغلي عبدالحکیم مجاهد د غونډې ګډونوالو ته ویناوې وکړې.

باید وویل شي چې د کنفرانس په وروستۍ برخه کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر یاد کنفرانس خورا ارزښتمن وباله او یادونه یې وکړه چې په راتلونکې کې به هم د اسلامي بانکدارۍ د پرمختګ لپاره له دوی سره ورته غونډې جوړې کړي.

نوموړي ژمنه وکړه چې په دې غونډه کې له شریک شویو نظرونو به د اسلامي بانکدارۍ د پرمختګ په برخه کې کار واخلي او په دې برخه کې به د دیني علماوو او پوهانو سره خپلې مشورې جاري وساتي.

# ملاقات هیئت افغانستان با رئیس عمومی صندوق بین المللی پول



محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک و محترم همایون قیومی وزیر مالیه و مشاور ارشد رئیس جمهور در امور زیربناها و هیئت همراه شان با خانم کریستالینا گئورگیِوا رئیس عمومی صندوق بین المللی پول در شهر واشنگتن ایالات متحده امریکا ملاقات نمودند.

در این ملاقات که خانم رویا رحمانی سفیر افغانستان در واشنگتن نیز حضور داشت، رئیس عمومی صندوق بین المللی پول، دستآوردهای افغانستان در عرصه حفظ و ثبات نظام اقتصادی افغانستان و پیشبرد اصلاحات را مورد تحسین قرارداد و از عملکرد د افغانستان بانک و وزارت مالیه جمهوری اسلامی افغانستان در زمینه تطبیق تعهدات افغانستان در عرصه اصلاح نظام مالی و استحکام سکتور بانکی ابراز رضایت نمود.

هیئت افغانستان پیام تبریکی رئیس جمهور افغانستان را به خاطر تقرر خانم گرگیوا به سمت ریاست صندوق بین المللی پول ابلاغ کرده و اقدامات و برنامه های دولت افغانستان در عرصه بهبود وضعیت اقتصادی، گذار از اقتصاد مصرفی به اقتصاد تولیدی، تقویت صادرات و تأمین خودکفایی مالی، گسترش نقش و حضور زنان و جوانان را به تفصیل تشریح نمودند.

محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک با اشاره به شناخت و تجارب شخصی خانم گرگیوا از وضعیت اقتصاد کشورهای در حال گذار و کمتر توسعه یافته، انتخاب وی را مناسب و بجا دانسته و حمایت صندوق بین المللی پول از سیاست های اقتصادی و مالی و اصلاحات در افغانستان را مهم و مؤثر خواند.

محترم نوشیر بر تقویت روابط افغانستان و صندوق بین المللی پول خصوصاً از طریق حضور نماینده صندوق در افغانستان، تاکید ورزید.

هیئت افغانستان با اشاره به اینکه برنامه مشترک میان افغانستان و صندوق بین المللی پول عنقریب تکمیل خواهد گردید، علاقه مندی و آمادگی کامل افغانستان به آغاز برنامه جایگزین، پس از تکمیل برنامه فعلی را ابلاغ کرد و بر اهمیت محوریت رشد اقتصادی و مبارزه با فقر و بیکاری در برنامه جایگزین تاکید ورزیده و از عزم راسخ افغانستان در مبارزه با فساد اطمینان داد.

# اشتراک هیئت رهبری د افغانستان بانک در اجلاس سالانه صندوق بین المللی پول و بانک جهانی







۳۰ میزان ۱۳۹۸- محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک در جلسه سالانه صندوق بین المللی پول و بانک جهانی در واشنگتن دی سی اشتراک کرد.

در این نشست هیئت د افغانستان بانک با مسئولان بلند پایه صندوق بین المللی پول و بانک جهانی ملاقات های دو جانبه و چند جانبه را انجام داده و در مورد موضوعات مختلف اقتصادی به تبادل نظر پرداختند.

محترم واحدالله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک با ابراز خرسندی از تکمیل موفقانه برنامه تمدید تسهیل کریدت (ECF) اظهار داشت که خوشبختانه د افغانستان بانک توانسته است اهداف و شرایط این برنامه را در سالیان گذشته و سال روان با وجود شرایط دشوار و چالش برانگیز کشور موفقانه به پایه اکمال برساند.

وی اظهار امیدواری کرد که صندوق بین المللی پول جهت ادامه اصلاحات اقتصادی برنامه جدید اقتصادی را آغاز نماید. صندوق بین المللی پول ضمن ابراز خوشی از تکمیل موفقانه برنامه تمدید تسهیل کریدت از آغاز برنامه جدید استقبال کرده اطمینان داد که در آینده نزدیک تیم های تخنیکی و مسئولان هر دو نهاد روی آغاز برنامه جدید به بحث خواهند پرداخت.

محترم نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک ضمن سپاس از همکاری های این دو نهاد در سالیان گذشته، از آنها خواست تا کمک های شان را ادامه داده و دولت افغانستان را در راستای طرح و تطبیق برنامه های مهم اقتصادی یاری رسانند. وی تأکید کرد که این دو نهاد به برنامه های اولویت دهند که اقتصاد کشور را بسوی شکوفائی و خودکفایی سوق دهد.

معاون اول و سرپرست د افغانستان بانک در نشست جداگانه دیگر با مسئولان خزانه داری ایالات متحده امریکا نیز دیدار نموده و روی موضوعات مختلف بخصوص جلوگیری از پول شویی و تمویل تروریزم بحث و تبادل نظر نمود.

خاطر نشان میگردد اینکه، سی و نهمین اجلاس رئیسان بانک های مرکزی کشور های عضو سارک در واشنگتن دی سی بتاریخ ۲۵ میزان سال روان خورشیدی به میزبانی کشور بوتان برگزار گردید.

در حاشیهٔ این نشست مسئولان کشورهای عضو سارک اشتراک نموده روی موضوعات ارتقای ظرفیت، شمولیت مالی، دیتابیس سارک، نظارت بانک ها و اجرای پژوهش های مشترک بحث و تبادل نظر نمودند.

محترم نائب خان جمال آمر عمومی سیاست پولی و هماهنگ کننده سارک فاینننس به نمایندگی از د افغانستان بانک در این اجلاس اشتراک نموده و در مورد پدیده چلش اسعار ( اسعار زایی) در کشور های عضو سارک صحبت نمود. وی از کشور های مذکور خواست تا مشترکاً برای اسعارزدایی اقدام نمایند که کشور هندوستان آمادگی خویش را در این مورد ابراز نمود.

# گفتمانی با چند تن از استادان جامعه اکادمیک





کابل، ۳ میزان ۱۳۹۸ – د افغانستان بانک گفتمانی را در زمینه چگونگی نظارت بر سکتور بانکی و مالی کشور، با چند تن از اساتید محترم جامعه اکادمیک برگزار کرد.

هدف از راه اندازی این برنامه را بحث و تبادل نظر روی چگونگی نظارت بر سکتور بانکی و مالی و سایر موارد مرتبط به این بحث، تشکیل می داد.

محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک با ایراد سخنان افتتاحیه، در زمینه برنامه های د افغانستان بانک برای چگونگی نظارت بر سکتور بانکی و مالی ابراز نظر نموده و از استادان اشتراک کننده در این بحث خواست تا آنها با تشریک تجارب و اندوخته های علمی شان بانک را در طرح پالیسی های جامع، کارا، مؤثر و با درنظرداشت مقتضیات و شرایط افغانستان یاری رسانند.

در ادامه این برنامه، محترم محمد سلیم صلاح آمر عمومی نظارت امور مالی د افغانستان بانک ضمن اشاره به چگونگی نظارت از بانکها در مطابقت با قوانین، مقررات و رهنمود های نظارتی، روی قوانین، مقررات، طرزالعمل ها و روش های نظارتی روشنایی انداخته و جوانب ذیدخل در این عرصه را واضح ساخت.

متعاقباً، اساتید محترم جامعه اکادمیک نظریات مفید خویش را با مقامات د افغانستان بانک پیرامون موضوع شریک ساخته، بحث و تبادل نظر نمودند که مورد استقبال هیئت رهبری بانک قرار گرفته و از نظریات نیک ایشان قدردانی بعمل آمد.

بایدیاد آور شد که در این برنامه برعلاوه محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک و محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم افغانستان بانک، استاد سیف الدین سیحون، محمد رضا فرزام استادان پوهنتون کابل، قیس محمدی، جوهر مسعودی استادان پوهنتون کاردان، داکتر حسن روحانی، احمد محمدی استادان پوهنتون کاتب،نادر شاه نادر، حمید الله شیرزی استادان اقتصاد پوهنتون باختر، محمد نبی، سمیع الله نعیمی استادان اقتصاد پوهنتون رنا و شماری از آمرین و معاونین شعبات ذیدخل د افغانستان بانک نیز اشتراک ورزیده بودند •

# د مالي پوهې لوړولو او مقطعي پانګې د لېږد په اړه غونډه



کابل، د ۱۳۹۸ کال د تلې ۸ مه – د افغانستان بانک او د کليو د بيا رغونې او پراختيا وزارت تر منځ د مالي پوهې لوړولو او مقطعي پانګې د لېږد په اړه هوکړه ليک لاسليک شو.

د هوکړه ليک د لاسليک په اړه جوړه شوې غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستيال ښاغلي واحدالله نوشېر يادونه وکړه چې په مالي برخه کې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت کارکوونکو ته روزنه، د بانکونو له لوري په کليوالي سيمو کې د پور د ورکړې په برخو کې همکاري او د سيما په اړه خلکو ته د پوهاوي ورکړه په دې هوکړه ليک کې شامل دي.

د نوموړي په خبره د دې هوکړه ليک له مخې به د افغانستان بانک مسئولين د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت کارکوونکو ته روزنه ورکوي او ياد کارکوونکي به خپلې روزنيزې تجربې په کليوالي سيمو کې له خلکو سره شريکوي.

ښاغلي نوشېر ياد هوکړه ليک د افغانستان بانک او د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت په ګټه ياد کړ او په دې برخه کې يې له يادو وزارت سره د لا زياتو همکاريو ډاډ ورکړ.

بايد ووېل شي چې په دې غونډه کې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزير ښاغلي مجيب الرحمن کريمي يادونه وکړه چې په روان کال کې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د هېواد په کليوالي سيمو کې څه باندې ۸ زره بيخبنسټيزې پروژې ترلاس لاندې لري.

نوموړي په خبره د دې پروژو له کبله د ټول هېواد په کچه نږدې ۱۳ ميليونه کاري فرصتونه رامنځته شوي دي چې د يادو دندو ۸۰ سلنه برخه يې د ښځو لپاره دي.

ښاغلي کريمي د خپلو خبرو په ترڅ کې د افغانستان بانک له همکارۍ مننه وکړه چې تر کليوالي سيمو د يادو پروژو د مالي لګښتونو په برخه کې ورسره مرسته کوي.

پاتې د نه وي چې په دې غونډه کې د افغانستان بانک دويم مرستيال ښاغلي محمد قسيم رحيمي، په کليوالي سيمو کې د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت د ښځو د پياوړتيا د پروګرام مشر ښاغلي رحمت الله قريشي، د افغانستان بانک د بېلابېلو ادارو آمرينو او کارکوونکو سربېره د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت يو شمېر استازو هم ګډون کړی وو.

# پذیرش د افغانستان بانک منحیث کارفرما در ACCA





کابل، ۱۴ میزان ۱۳۹۸- د افغانستان بانک بعد از تکمیل یک سلسله شرایط و معیارهای تعیین شدۀ ACCA، سند کارفرمای قبول شده را بدست آورد.

محترم محمد قسیم رحیمی سرپرست و معاون دوم د افغانستان بانک طی محفلی که به این منظور تدویر یافته بود، در کنار اینکه پذیرش د افغانستان بانک را منحیث کارفرما در این سازمان یک دستاورد مهم عنوان نمود، افزود که د افغانستان بانک با ابتکار قبول شدن منحیث کار فرما یک تعداد شرایط در سطح بین المللی را تکمیل نموده است.

محترم رحیمی به ادامه صحبت هایش گفت که یکی از معیارهای که صندوق وجهی بین المللی برای د افغانستان بانک هدف قرار داده است، داشتن کادرهای مسلکی در بخش های مربوطه بشمول ACCA می باشد. امروز جای مسرت است که د افغانستان بانک با بدست آوردن سند کارفرمای قبول شده از جانب ACCA، این معیار را به شکل موفقانه تکمیل نمود.

سپس محترم سیدیونس سادات آمر عمومی مالی و محاسبه روی پذیرش د افغانستان بانک در این مؤسسه تحصیلی صحبت نموده و افزود که ACCA یک مؤسسه قبول شده می باشد که در زیادتر از ۱۷۸ کشور در عرصه تعلیمات مسلکی و تخصصی عملاً مصروف فعالیت است.

محترم سادات افزود: کسانیکه در د افغانستان بانک در بخش های مانند، محاسبه، حسابرسی داخلی، نظارت و بخش های تحقیقات علمی کار می نمایند، داشتن سرتیفیکیت ACCA برای شان بسیار مهم پنداشته می شود.

قابل یاد آوریست که در این محفل تعدادی از آمرین و معاونین شعبات د افغانستان بانک، مشاور مالی این بانک و تعدادی از مدیران بخش ها و کارمندان د افغانستان بانک نیز اشتراک نموده بودند.



# تر راتلونکو ۵ کلونو د بانکدارۍ په برخه کې ۸ نوې ټکنالوژۍ راتلونکې دي

د وړاندوینو له مخې تر راتلونکو ۵ کلونو به د بانکدارۍ په برخه کې ۸ داسې نوي تکنالوژیکي پرمختګونه رامنځته شي چې له راتګ سره به یې د بانکدارۍ په پخوانیو سیستمونو کې په بشپړ ډول بدلون را منځته شي او دا چاره به د پېرودونکو او بانکونو لپاره زیاتې آسانتیاوې برابرې کړي.

وړاندوینې ښیي چې په دې تکنالوژیکي پرمختګونو کې به پرمختللي کوډونه، هوښیار ساعتونه (Smart Watches)، هوښیارې عینکې (Smart Glasses)، له لرې کنټرولېدونکو خدمتونو وړاندې کول او یو شمېر نور تکنالوژیکي نوښتونه شامل وي.

په دې مقاله کې د بانکوالۍ په برخه کې د راتلونکو نوښتونو په اړه معلومات په لاندې بڼه وړاندې کېږي:

**۱. بلاکچین ټکنالوژي (Blockchain Technology)**

بلاکچین د راپور ورکولو او معلوماتو راټولولو تر ټولو پیاوړې تکنالوژي ده. له نورو تکنالوژیو سره د دې تکنالوژۍ توپیر دا دی چې د دې تکنالوژۍ په سیستم کې زیرمه شوي معلومات د شبکې د ټولو غړو تر منځ د قوي امنیتي کوډونو په وسیله شریک شوي او دا شبکه یې له ځانګړې په ګډو واحدونو وېشلې ده.

تمه ده چې دا تکنالوژي به بانکي او مالي سیستمونه په ټولیز ډول بدل کړي، مالي چارې به د یوې واحدې ادارې له مدیریت په پراخو شبکو وویشي او په دې برخه کې به زیات شمېر آسانتیاوې رامنځته کړي.

د دې تکنالوژۍ په وسیله به مالي لېږدونې د کمپیوټري شبکو له لارې د داسې خوندي کڅوړو (Pockets) په وسیله تر سره کېږي چې څوک و نه شي کولای چې یادو کڅوړو ته لاسرسی ومومي ((په آسانۍ سره نه شي هک کېدلای)).

**۲. پرمختللي اې ټي ایم ماشینونه (Upgraded ATMs)**

که څه هم په ۱۹۶۷ زېږدیز کال کې د اې ټي ایم ماشینونو په رامنځته کېدو سره د بانکدارۍ په برخه کې پراخ بدلونونه رامنځته شول، خو د اې ټي ایم راتلونکی نسل به د Apple Pay او Google Wallet په شان د هوښیارو تلیفونونو له لارې، له تماس پرته د خدمتونو وړاندې کول پیل کړي.

د دې ډول ماشینونو نوې بېلګې په هند او قطر کې رامنځته شوې دي چې د بایومتریک او له سترګو سره د تماس په وسایلو سمبال دي، دا تکنالوژۍ د ATM هیکونو په وړاندې له پیاوړې څواکمنتیا برخمنې دي.

**۳. د غیر بانکي مالي ادارو دود کېدل (Proliferation of Non-Banks)**

بانکونه هیله مند دي چې دا تکنالوژي به دوی ته د دې وړتیا ورکړي چې خپلو مشتریانو ته پر وخت روښانه او چټک خدمتونه وړاندې کړای شي، که څه هم دا مهال د بانکي ادارو د سرچینو زیاته برخه په امنیتي، صنعتي او نورو برخو کې لګول کېږي، خو د تکنالوژۍ په غوړېدو سره به دا چاره په ټولیز ډول بدله شي او د همدې تکنالوژۍ د پراختیا په برخه کې به زیاته پانګه اچونه وشي.

په ۲۰۱۶ زېږدیز کال کې د Greenwich Associates په راپور کې چې دا کمپنی د بازار معلومات را ټولوي راغلي چې د دې تکنالوژۍ په راتګ سره به یادې ادارې، د هغو بانکونو په وړاندې چې په سنتي ډول خدمتونه وړاندې کوي، ډېرې پېرودونکي جذب کړي او په دې سره به په یاده برخه کې د بدلون لپاره لاره هواره شي او زیاتې آسانتیاوې به رامنځته کړي.

**۴. د اپل پلورنځیو تجربه (Apple Store-Style Experience)**

تر راتلونکو څو کلونو به په بانکونو کې

»

پېر او پلور د اپل پلورنځیو په شان شي.
که څه هم دا مهال ډېری کسان کولای شي چې په خپلو تلیفونونو کې د بانکدارۍ یو شمېر اپلیکشنونه فعال کړي او یا هم د ATM ماشینونو په وسیله خپلې بانکي معاملې تر سره کړي، خو د دې تکنالوژۍ په راتګ سره به مشتریان په مستقیم ډول له بانکونو سره اړیکې ټینګولی شي او له همدې لارې به له بانکي خدمتونو ګټه پورته کوي.
که څه هم اوس په بانکونو کې د پېرودونکو لپاره خدمتونه په شخصي ډول تر سره کېږي او د بانکي کارکوونکي او پېرودونکي ترمنځ مخامخ اړیکې موجودې دي، خو بانکي ادارې هیله لري چې د دې تکنالوژۍ په راتګ سره به دا ډول اړیکې له منځه لاړې شي او پېرودونکو ته به نېغ په نېغه له بانک سره د اړیکو لپاره لاره هواره کړي او په دې سره به په وخت چټک خدمتونه وړاندې کړای شي.

**۵. د اتومات مالي خدمتونو کارکوونکي (Automated Financial Services Employees)**

ویکرم پنډیت چې د سیټي ګروپ شرکت د مالي بحران په دوران کې د یاد شرکت رییس ؤ، په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې یې له بلومبورګ تلویزیون سره په یوه مرکه کې وویل، د دې احتمال شته چې د تکنالوژۍ د پرمختګونو له امله په راتلونکو پنځو کلونو کې ۳۰ سلنه بانکي دندې له منځه لاړې شي.
د نوموړي په خبره د وال سټریټ شرکتونو تر ټولو لوی کارکوونکي په دې لټه کې دي چې په کمپیوټري او د اتومات ماشینونو په برخو کې زده کړې وکړي او یا هم نورو موقعیتونو ته ځانونه بدل کړي، ځکه دوی پوهېږي چې تر راتلونکو څو کلونو پورې د تکنالوژۍ له پرمختګ سره دندې کمېږي.

**۶. د موبایل او ډیجیټل بانکدارې (Mobile and Digital Banking)**

ګرځنده موبایل او ډیجیټل د بانکدارۍ په سیستم کې نوي پرمختګونه رامنځته کړي دي او د هرې ورځې په تېرېدو سره دا پرمختګونه لا پراخېدونکي دي.
بانکونه په ډېرې چټکۍ سره د هغه ډیجیټل تکنالوژۍ په برخه کې د پانګې اچونې په حال کې دي چې پېرودونکي د ګرځنده تلیفون او ویبپاڼو له لارې ترې ګټه پورته کوي.
په ۲۰۱۶ زېږدیز کال کې د فوربس یوه نظر پوښتنه ښیي چې ۸۶ سلنه بانکونه د تکنالوژۍ په برخه کې په پانګې اچونې کار کوي او دا چاره د لا پرمختګ په حال کې ده.

**۷. مشارکت (Partnerships)**

که څه هم بانکونه کولای شي زیاتې پیسې د تکنالوژۍ په برخه کې ولګوي، خو ستراتیژیک مشارکت ښایي د نوښت لپاره تر ټولو چټکه لاره و اوسي.
په نویو او چټکو تکنالوژیو سمبال شرکتونه کولای شي د بانکونو لپاره ښه شریکان جوړ شي، دا چاره به نه یوازې دا چې د بانکونو لپاره ګټوره تمامه شي، بلکې د پېرودونکو د تجربې د زیاتوالي لامل هم کېږي.
د دې مشارکت غوره بېلګه Cardlytics شرکت یادولی شو چې دا مهال له یو شمېر مالي ادارو سره د ارقامو د شننو او تجزیې په برخه کې همکاري کوي.

**۸. د اغوستلو وړ تکنالوژي (Wearables)**

هوښیار ساعتونه (Smartwatches) چې په دې وسیله بانکونه کولای شي د بلوتوت له لارې خپلو مشتریانو ته د خپلو وړاندیزونو په اړه معلومات واستوي او په دې وسیله دوی د خپلو خدمتونو لپاره را جذب کړي.
همدارنګه هوښیارې عینکې چې د دې عینکو په کارولو سره د بانک کارکوونکي په یو وخت کې څو دندې تر سره کولای شي.
په ټوله کې ویلای شو چې د هوښیارو وسایلو (Smart Devices) رامنځته کېدل ډېرې آسانتیاوې رامنځته کولای شي او پېرودونکي کولای شي له هر ځای څخه خپلو بانکي اکونټونو ته لاسرسی ولري.●

سرچینې:


1 - Banking Rates/ 8 New Banking Technologies You'll See in the Next 5 Years
By John Csiszar April 14, 2019
https://www.gobankingrates.com/banking/technology/new-banking-technology/
2 - 8 New Banking Technologies You'll See in the Next 5 Years
http://softwarecorporation.com/2019/07/08/8-new-banking-technologies-youll-see-in-the-next-5-years/
3 - 6 Banking Technologies You'll See in the Next 5 Years
https://www.fool.com/investing/general/2015/05/30/6-banking-technologies-youll-see-in-the-next-5-yea.aspx

# نقش بانکداری الکترونیکی در توسعه اقتصاد

بانکداری الکترونیکی عبارت از فراهم آوری امکانات برای کارکنان در جهت افزایش سرعت و کارایی آن‌ها در ارایه خدمات بانکی در محل کار و همچنین پروسه های بین شعبه و بین بانکی به شکل داخلی و بین المللی و ارایه خدمات سخت‌افزاری و نرم‌افزاری بوده تا مشتریان بتوانند بدون نیاز به حضور فزیکی در بانک، در هر ساعت از شبانه روزی از طریق مجراهای ارتباط ایمن و مطمئن عملیات بانکی خود را انجام دهند.

به این ترتیب، بانک ها می توانند خدمات و محصولات بانکی را از طریق کانال‌های توزیع الکترونیکی به دست مصرف کننده ها برسانند. کاربرد تکنالوژی پیشرفته در شبکه‌ها و مخابرات جهت انتقال منابع پولی به مشتریان امکان می دهد تا سطح گسترده از نقل و انتقالات وجوه و اطلاعات را از طریق ویبسایت بانک عامل انجام دهند.

بانکداری الکترونیکی در واقع با رشد روزافزون حجم تجارت الکترونیکی در جهان و با توجه به نیاز تجارت به انجام عملیات بانکی جهت نقل و انتقال منابع مالی، نقش بسیار مهمی در تجارت الکترونیکی یافته است. استقرار بانکداری الکترونیکی، یکی از مسایل مهمی است که امروزه از ضرورت های صنعت نوین بانکداری به حساب می‌آید.

بانک هایی که در ارایه خدمات همگانی، این‌گونه خدمات را از دست می‌دهند، با خطر از دست دادن تعداد زیادی از مشتریان خود مواجه می‌شوند و برعکس، بانک‌هایی که با سرعت به سوی ارایه این خدمات می روند، فرصت آن را خواهند داشت که مشتریان بیشتری را جذب کنند.

طوریکه در فوق تذکر بعمل آمد بانکداری الکترونیکی مزایای را به همراه دارد که در ذیل به تعدادی از آنها اشاره می شود.

۱. کارآمدتر شدن پول شامل ساختار هزینه پائین تر و در نتیجه نرخ بهره رقابتی‌تر.
۲. دستیابی سریع و آسان به خدمات بانکی به گونه که هیچ محدودیتی برای ساعات ارایه خدمات بانکی در بانکداری الکترونیکی وجود ندارد.
۳. انعطاف‌پذیری بانکداری الکترونیکی در مورد زمان و مکان بانک به‌گونه که مشتری می‌تواند با استفاده از بانکداری الکترونیکی، معاملات بانکی خود را به صورت امن، چه در سفر و چه در منزل به راحتی و آسودگی انجام دهد.
۴. هزینه های پائین خودپرداز (ATM) به گونه ایکه بسیاری از بانک های الکترونیکی به مشتریان خود امکان دسترسی رایگان به دستگاه های خودپرداز در سراسر کشور را از طریق شبکه نظیر آل پوینت می‌دهند.
۵. امکانات هوشمند و ساده، شامل پرداخت صورت‌حساب و انتقال وجوه به صورت امن و الکترونیکی با استفاده از خودپرداز، کمپیوتر و تلیفون همراه و دیگر ابزار.
۶. کنترول بیشتر بر حسابات که از این لحاظ مشتری می تواند هر زمان که خواست به حساب و معاملات خود دسترسی داشته باشد.
۷. بی نیاز شدن از کاغذ، به‌گونه که بانکداری الکترونیکی انتخاب مناسبی برای حفاظت از محیط زیست است، زیرا شما به وسیله آن می‌توانید تمام صورت‌حساب های خود را به صورت الکترونیکی مشاهده کنید و درنتیجه در مصرف کاغذ و هم چنین هزینه های مرتبط با ارسال صورت حساب ها به مشتریان صرفه‌جویی نمایید.



غلام‌حسن زاهدی
لیسانس پوهنځی اقتصاد پوهنتون کابل

به صورت کُلی مقایسه دو سیستم بانکی الکترونیکی و سنتی در جدول ذیل ارائه شده است.

| بانکداری الکترونیکی | بانکداری سنتی |
|---|---|
| بازار نامحدود از لحاظ مکانی | بازار محدود |
| ارایه خدمات گسترده و متنوع براساس نیاز مشتری | ارایه خدمات محدود (خدمات به یک شکل خاص و متکی به شعب) |
| تمرکز بر هزینه‌ها و رشد درآمدها | تمرکز بر هزینه‌ها |
| تاکید بر کسب درآمد از طریق کارمزد | کسب درآمد از طریق حاشیه سود (تسهیلات اعطایی) |
| ارایه خدمات به صورت شبانه روزی | ارایه خدمات در ساعات خاص (محدود به ساعات اداری) |
| کاهش در استفاده از نیروی انسانی و بروکراسی اداری مبتنی بر اسناد و مدارک کاغذی | متکی بر ساختار اداری مبتنی بر اسناد و کاغذ و تعداد زیاد نیروی انسانی |

باید گفت که هدف بانکداری الکترونیکی استفاده از تکنالوژی پیشرفته نرم افزاری و سخت‌افزاری مبتنی بر شبکه و مخابرات برای تبادل منابع و اطلاعات مالی مشتریان به صورت الکترونیکی است. این فناوری می‌تواند باعث حذف نیاز به حضور فزیکی مشتری در شعبه‌های مختلف بانک‌ها شود. استفاده از پیام های کمپیوتری متمرکز، محدود نبودن به زمان و مکان برای انجام عملیات بانکی، امنیت بالا و قابلیت پی‌گیری عملیات بانکی و افزایش سرعت و کارایی از ویژگی‌هایی است که تأسیس بانک‌های مجازی در دنیای کنونی را ضروری می‌سازد.

در کُل بانکداری الکترونیک دارای اهدافی است که مهمترین اهداف آنرا ذیلاً بیان میداریم.

۱- یکی از مهم‌ترین اهداف در توسعه بانکداری الکترونیکی کاهش و در حالت مطلوب حذف الزام و اجبار افراد از طریق طراحی سایت، موبایل بانک و ....برای مراجعه به شعبه بانک‌ها برای دریافت خدمات بانکی است. از این طریق از اتلاف وقت و انرژی مشتریان و کارکنان شعبه بانک‌ها جلوگیری می شود و کارایی، کیفیت و سرعت خدمات به نحو مطلوب بالا می‌رود.

۲- مجریان سیستم‌های بانکداری الکترونیکی تلاش می‌کنند تا وابستگی مبادله‌های مالی روزمره مردم را به ابزار پرداخت کاغذی؛ از قبیل چک و پول کاهش داده و آن‌ها را از نظر علمی و فرهنگی متقاعد به استفاده از بانکداری الکترونیکی نمایند.

۳- توسعه سیستم‌های بانکداری الکترونیکی برای آن‌ها ارزش افزوده به همراه خواهد داشت، زیرا که باعث کاهش هزینه های مربوط به چاپ، نشر و طراحی موارد کاغذی می شود.

۴- افزایش کیفیت سیستم های دریافت و پرداخت از دیگر برنامه‌هایی است که در اثر توسعه بانکداری الکترونیکی عاید مردم خواهد شد.

۵-یکی از مواردی که همیشه بر پروسه کاری بانک‌ها فشار وارد می‌کند، مراجعه متعدد مردم برای پرداخت هزینه های ادواری است. این هزینه‌ها که شامل قبوض خدمات عمومی مانند برق، گاز، تیلیفون، حق البیمه، پرداخت سود سهام و ... هستند. در صورتی که موارد فوق به وسیله سیستم‌های الکترونیکی امکان پرداخت داشته باشند، درصد بالایی از حجم کاری شعبه‌ها را کاهش داده و در نتیجه باعث بالا رفتن کیفیت کار خواهد شد.

۶- گسترش عملی و فرهنگی ابزار پرداخت الکترونیکی مانند کارت‌های بانکی، دستور

»

پرداخت الکترونیکی، پول الکترونیکی، چک الکترونیکی و ...

۷- توسعه تجارت الکترونیکی با استفاده از پشتوانه بانکی به ویژه توسعه پول الکترونیکی برای تسهیل مبادله‌های مالی.

به همین سان، بانکداری الکترونیکی شامل سیستم‌هایی است که مشتریان مؤسسات مالی را قادر می‌سازد تا در سه سطح اطلاع رسانی، ارتباط و معاملات از خدمات و سرویس‌های بانکی استفاده کنند.

۱- اطلاع رسانی: این سطح ابتدایی‌ترین سطح بانکداری انترنتی است. بانک اطلاعات مربوط به خدمات و عملیات بانکی خود را از طریق شبکه‌های عمومی یا خصوصی معرفی می‌کند.

۲- ارتباطات: این سطح از بانکداری انترنتی امکان انجام مبادلات بین سیستم بانکی و مشتری را فراهم می‌آورد. خطر این سطح در بانکداری الکترونیکی بیشتر از سنتی است و کنترول‌های مناسبی را برای عدم دسترسی به شبکه انترنت بانک و سیستم‌های کمپیوتری نیاز دارد.

۳- معاملات: این سیستم متناسب با نوع اطلاعات و ارتباطات خود از بالاترین سطح ریسک برخوردار است و با یک سیستم امنیتی کنترول شده، قادر است صدور چک، انتقالات پولی و افتتاح حساب را انجام دهد.

**نقش بانکداری الکترونیکی در اقتصاد**

بانک‌ها نقش اساسی و کلیدی در رشد و توسعه اقتصادی دارند. بدون بانک‌ها و مؤسسات مالی نمی‌توان به رشد و پویایی اقتصادی رسید. این نهاد مالی مصون‌ترین مکان برای نگهداری سرمایه‌های افراد حکمی و حقوقی می‌باشد. هم‌چنان این نهاد معتبر زمینه‌ی سرمایه‌گذاری را از طریق اعطای قروض برای شهروندان فراهم می‌کند.

بانکداری الکترونیکی بالای رشد و توسعه اقتصاد نقش قابل توجه داشته و دانشمندان در این مورد نظریات گوناگون را ارایه نموده اند که نقش آنها را روی اقتصاد به نکات زیر خلاصه می‌کنیم:

**۱- توسعه زیرساخت‌های مالی و بانکی:** از مهمترین اقدامات بانک‌ها روی بانکداری الکترونیکی، ایجاد زیرساخت‌های مانند کارت‌های هوشمند، توسعه سخت‌افزاری شبکه‌های بانکی و فراگیر کردن آن است. همچنین ارتباط مناسب به منظور تطبیق پرتوکول‌های داخل و شبکه‌های بانکی با یکدیگر از اقدامات دیگر این حوزه است.

**۲- توسعه زیرساخت‌های حقوقی و قانونی:** توسعه هر تکنالوژی جدید پیش از پذیرش عمومی، نیازمند پذیرش قانونی است تا تمام ظرفیت‌های آن مورد استفاده قرار گیرد. به این مفهوم که باید بسترهای قانونی مورد نیاز فراهم شود و با شناخت تمام احتمالات روند بانکداری الکترونیکی، درصد خطر و استرس جامعه را نسبت به سیستم امنیتی بر بانکداری کاهش داد.

**۳- تأمین زیرساخت‌های نرم‌افزاری و امنیتی:** در صورتی که زمینه لازم برای توسعه نرم‌افزاری و افزایش امنیت در سیستم‌ها فراهم شود، کاربرد عمومی از سیستم‌های الکترونیکی گسترش یافته و خطر استفاده از چنین سیستم‌ها کاهش یافته و اعتماد و رضایتمندی مشتری افزایش می‌یابد.

**۴-نقش بانکداری الکترونیکی در توسعه سیاحت:** بانکداری الکترونیکی-e‌ (banking‌را باید بستر کارآفرینی دیجیتلی Digital‌ (entrepreneurship‌ دانست که از آن به عنوان یک صنعت فرصت آفرین در دهکده جهانی هزاره سوم یاد می کنند. بانکداری الکترونیکی، نقش زیادی در توسعه سیاحت دارد و سیاحت مجازی، موتور و محرک صنعت گردشگری و تفریح در جهان است.

**۵-نقش بانکداری الکترونیکی برای کسب و کار:**

- **نگهداشتن مشتری:** معمولاً مالکان کسب و کارها نگران از دست دادن مشتریان خود اند که از اینرو همیشه در پی راهی برای نگهداشتن آنها هستند. در تجارت الکترونیکی دیگر کسب و کارهای آنلاین نباید دغدغه‌ای در این مورد داشته باشند، زیرا از سراسر دنیا می توانند مشتریان خود را داشته باشند.
- **افزایش فروش:** کسب وکارهای آنلاین، نیازی به اداره فروشگاه ندارند و

می‌توانند فروش آنلاین با منفعت بالا داشته باشند. آن‌ها می‌توانند به روش‌های مختلفی پول را از مشتری دریافت کرده تا خرید را برای مشتری سریعتر و راحتتر کنند. این کسب و کارها با در دسترس بودن به صورت بین‌المللی می توانند محصولات بیشتری را به فروش برسانند.

- **دسترسی در هر زمان و مکان:** دیگر شرایط جغرافیایی یا مکانی نمی‌تواند برای مشتریان محدودیت ایجاد کند، زیرا در تجارت الکترونیک کاربران می‌توانند در ۳۶۵ روز سال ۲۴ ساعته برای مشتریان در دسترس باشند. درهای فروشگاه برای کسب سود بیشتر هرگز به روی مشتریانش بسته نخواهد شد.
- **گستردگی حوزه تجارت:** اگر بازاریابی درست انجام شود، مشتریان در سراسر دنیا می‌توانند به وبسایت مراجعه کرده و اطلاعات و محصولات مورد نیاز خود را پیدا کنند.

**نتیجه‌گیری**

از آنجا که بانک‌ها ستون فقرات و محرک اصلی رشد و توسعه اقتصادی به شمار می‌روند، نقش اساسی در سرمایه‌گذاری و کارآفرینی نیز دارند. امروز بانکداری الکترونیکی زمینه دادوستد را به صورت شبانه‌روزی فراهم نموده است و کدام وقت محدود ندارد. حتی مشتری می‌تواند در خانه بدون کدام هزینه مالی و اتلاف وقت، دسترسی کامل و آسان به خدمات مالی داشته باشد.

به صورت کُل می‌توان نکات ذیل را به عنوان نتیجه‌گیری از این مقاله ارائه نمود:

۱- بانک الکترونیکی زمینه افزایش کیفیت و سرعت خدمات بانکی را برای مشتریان فراهم می‌نماید.

۲- بانک الکترونیکی در ارایه خدمات گسترده و متنوع و براساس نیاز مشتری عمل می‌کند.

۳- بانک الکترونیکی استفاد از نیروی انسانی و بروکراسی اداری مبتنی بر اسناد و مدارک کاغذی را کاهش می‌دهد.

۴- بانک الکترونیکی زمینه توسعه تجارت الکترونیکی به ویژه توسعه پول الکترونیکی را برای تسهیل مبادله های مالی فراهم می‌کند.

۵- بانکداری الکترونیکی باعث کاهش هزینه‌های مربوط به چاپ و نشر پول کاغذی می‌شود.

۶- بانکداری الکترونیکی موجب کاهش تردد مراجعین به شعبه بانک‌ها برای دریافت خدمات بانکی می‌شود و هم‌چنان سبب جلوگیری اتلاف وقت و انرژی مشتریان و کارکنان شعبه بانک‌ها می‌گردد.

۷- بانکداری الکترونیکی موجب رشد و شکوفایی اقتصاد می‌گردد.

**پیشنهادها**

با مطالعه و غور روی این مقاله نکات آتی را به عنوان راهکار و پیشنهاد ارایه می‌نمایم:

۱- ایجاد بستر قانونی، حقوقی و ضمانت اجرایی برای توسعه و گسترش استفاده از بانکداری الکترونیکی.

۲- تاکید بر منافع عمومی و استفاده از بانکداری الکترونیکی مانند کاهش مصرف سوخت، کاهش آلودگی محیط زیست و کاهش هزینه چاپ پول.

۳- ترویج و نهادینه نمودن فرهنگ استفاده از توانمندی‌های بانکداری الکترونیکی.

۴- افزایش خدمات امنیتی بانکداری الکترونیکی برای اعتمادسازی مردم.

۵- برگزاری دوره‌های آموزشی برای آشنایی مشتریان با ابزارهای خدمات بانکداری الکترونیکی.

**منابع و مآخذ**


1. لیلا داداشی، مقاله بررسی اثر گسترش بانکداری الکترونیکی بر کاهش هزینه‌های بانک، سال ۱۳۹۳.
2. صدیقه قلی زاده، مقاله بررسی جایگاه بانکداری الکترونیکی و راهکارهای توسعه آن در اقتصاد، فصلنامه روند سال ۱۳۹۳.
3. دکتور پور سلیمی، مقاله بانکداری و پرداخت الکترونیکی، سال ۱۳۹۴.
4. مریم هنرمند، مقاله بانک الکترونیکی – مزایا و موانع آن.
5. ریحانه بحری نژاد، مقاله بررسی تاثیر بانکداری الکترونیک در افزایش رضایت مشتری.
6. سایت بانکی یا www.banki.ir
7. سایت ویکی پدیا www.wikipedia

## د موبايل له لارې بانکوالي

بانکي حسابونو ته لاسرسی او د موبايل له لارې د بانکي معاملاتو تر ســره کولو ته موبــايل بانکينګ وايي. دا ډول بانکوالي د ليکلو پيغامونو، مسيجونو او يا هم د اپليکيشنونو له لارې تر سره کېږي.

دا بانکوالي په کوم ځانګړي ځای پورې اړه نه لري، بلکې د بانکونو پېرودونکي کولای شي له کور، کارځای او يا له بل هر ځای څخه خپلې بانکي معاملې تر سره کړي.



# کوچنۍ سوداګري او د پيل لپاره يې ګټورې لارښوونې او کړنلارې

د هر لوی او واړه کار د پيل لپاره د آيډيا، پلان او هدف ټاکل تر ټولو لومړنۍ او ارزښتمنې چارې دي.

دا چې يوه کوچنۍ سوداګري له کومه پيل کړو په دې مقاله کې په همدې موضوع تم کېږو. په ياد ولرئ چې ټولې سوداګرۍ د پيل لپاره يو ګڼ ټکي يا يوې آيډيا ته اړتيا لري، د دې لپاره چې ښه سوداګري مو پيل کړې وي په کار ده چې تر ټولو مخکې د پيل لپاره يوه ښه آيډيا ولرۍ، مه هېروئ تر هغې چې د يوې نوې سوداګرۍ د پيل لپاره مو آيډيا نه وي موندلې سوداګري مه پيلوی، پام مو وي چې د سوداګرۍ د آيډيا د موندلو سره مو خپله مسلکي وړتيا له ياده مه باسئ.

له آيډيا وروسته د يوې سوداګرۍ د پيل لپاره څېړنه وکړئ، ترڅو دا پيدا کړی چې د دې سوداګرۍ ګټې او تاوانونه څه دي؟ په همدې څېړنه کې د ګټو او تاوانونو انډول وکړئ که مو ظاهراً د ګټو پله درنده وه بيا، نو بسم الله کړئ او سوداګري مو پيل کړئ، خو دا بايد په ياد ولرئ چې ستاسو سوداګري بايد د ټولنې لپاره ګټوره او د ټولنې د ستونزو د حل لامل شي، يعنې داسې يوه سوداګري پيل کړئ چې هم ستاسو او هم د ټولنې د غړو په ګټه وي.

په ياد ولرئ چې تاسو د خپلې سوداګرۍ د ټينګښت او تحقق لپاره پلان جوړونې ته اړتيا لرئ. که غواړی چې سوداګري مو پايښت ومومي، يو ساده او آسانه سوداګريز پلان تاسو ته د هغه څه په اړه چې غواړئ ور ورسېږئ، يو روښانه ليدلوری او هغه ته د رسېدو لارې چارې بيانوي.

په ټوله کې بايد ستاسو په سوداګريز پلان کې سوداګريزې موخې او د هرې يوې موخې تر شا انګېزه شامله وي، يعنې دا چې ستاسو په سوداګريز پلان کې هر څه بايد په روښانه ډول ذکر شوي وي، ترڅو موخو ته د رسېدو لپاره ستاسو کارکوونکي په انګېزه کار وکړي او له خپلو چارو خوند واخلي.

»

په یاد ولرئ چې د یوې کوچنۍ سوداګرۍ پیل ډېرو مالي سرچینو ته اړتیا نه لري، خو باید له یاده و نه ایستل شي چې سوداګري که هر څومره کوچنۍ هم وي یوه اندازه لومړنۍ پانګې ته اړتیا لري او دې ټکي ته پاملرنه د سوداګرۍ د پیل بنسټیزه غوښتنه ده.

پاتې دې نه وي چې د یوې سوداګرۍ د پیلولو لپاره، د پانګې د مونډنې لپاره بې شمېره لارې شتون لري چې ښه بېلګه يې د پور اخیستل او نور ... کېدای شي.

کله مو چې د خپلې سوداګرۍ د پانګې غمه وخوړله وروسته د خپلې سوداګرۍ یا شرکت لپاره نوم وټاکئ چې نوم د سوداګرۍ په هره برخه کې مهم رول لري، نو له دې کبله باید ورته مناسب نوم غوره کړئ.

په یاد ولرئ کله چې د سوداګرۍ د پیل په برخه کې تر دې ټکي را ورسېدی، اوس نو د خپلې سوداګرۍ د مدیریت په جوړښت پیل وکړی ستاسو کوچنۍ سوداګري کېدای شي، یو فرد له یوه شریک او یا یو کوچنی شرکت سره و اوسي.

د دې لپاره چې سوداګري مو بریالۍ شي داسې جوړښتونه رامنځته کړئ چې په اړونده برخه کې مسلکي وړتیا او پوره تجربه ولري.

د کار یا یوه شرکت د پیل لپاره په هره سیمه کې ځانګړي قوانین شتون لري او ځینو جوازونو ته اړتیا ده. د خپلې سوداګرۍ ډول او هغې سیمې ته په پام سره په کومه کې چې یاست جوازونه واخلئ.

د پورته یادو شویو چارو تر بشپړېدو وروسته د سوداګرۍ د پیل لپاره د ځای ټاکل ډېر اړین دي. د دې لپاره چې سوداګري مو وده وکړي په کار ده چې داسې ځای د خپلې سوداګرۍ لپاره وټاکئ چې ستاسو د سوداګریزو چارو په برخه کې پر تاسو سربېره ستاسو د مشتریانو لپاره هم آسانتیاوې رامنځته کړي، د ځای ټاکل کېدای شي چې اداره، کور، یو خصوصي یا ګډ دفتر او یا یو اجاره شوی ځای وي.

کله مو چې د خپلې سوداګرۍ لپاره ځای پیدا کړ، بیا نو د سوداګرۍ د پرمختګ او پیاوړتیا لپاره د حسابدارۍ سیستمونه جوړ کړئ، د حسابدارۍ د سیستمونو په لرلو سره به ستاسو سوداګریزې چارې په ډېر ښه ډول پرمخ ځي او په دې برخه کې به هېڅ ډول ستونزه نه رامنځته کېږي.

د دې ټولو چارو له ترسره کېدو وروسته کله چې ستاسو سوداګري پیل شوه، نو دا مهال د ډېرو پېرودونکو را جلبولو ته اړتیا لرئ. تر شوني بریده د خپل ځان لپاره د بازار مونډنې نوې آیډیاوې ولرئ، ترڅو وکولای شئ، په غوره او اغېزمنه توګه خپل کار ته دوام ورکړئ.

سرچینې:

۱ – یاران ویبپاڼه/ عطا محمد میاخېل

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۸/۰۷/۰۱

https://yaran.com/small-business/

۲ – 7Essential Startup Steps/Starting a Business

By: Rich Mintzer/ Author and journalist

https://www.entrepreneur.com/article/202106

۳ – How to Start a Small Business / by Michael R. Lewis

https://www.wikihow.com/Start-a-Small-Business

# اقتصادي خبرونه

**افغانستان هیله لري چې نړیوال وجهي صندوق ورسره مرسته وکړي**

د مالیې وزارت وایي، افغان حکومت په لومړي ځل په ۱۸ کلونو کې د پیسو د نړیوال وجهي صندوق "آی ایم ایف" سره د مالي او اقتصادي اصلاحاتو پروګرام په شپږو پړاونو کې بشپړ کړی دی.

یاد وزارت وایي چې د دغو پروګرامو له لارې به څه باندې ۴۴ میلیونه ډالره له "آی ایم ایف" څخه ترلاسه کړي.

د نړیوال وجهي صندوق او د مالیې وزارت غونډه په دوبۍ کې وه چې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر هم په کې برخه اخیستې وه.

ښاغلي نوشېر د امریکا غږ اشنا سره مرکه کې ویلي دي چې دا د ای ایم ایف سره د افغانستان شپږمه او وروستۍ ناسته وه او امیداوري ده چې افغانستان به د ای ایم ایف له پروګرامه بریالی ووځي.

ښاغلی نوشېر وایي چې افغانستان به د دسمبر تر میاشتې انتظار کوي چې د دې غونډې په اړه خپل نظر څرګند کړي.

د نړیوال وجهي صندوق "آی ایم ایف" په خپل رسمي انټرنیټي پاڼه هم د مالیې وزارت دا خبر تائید کړی دی.

افغان حکومت د پیسود نړیوال وجهي صندوق سره دا پروګرام په ۲۰۱۶ میلادي کال کې پیل کړ.

**معادن طلا و مس زرکشان غزنی به داوطلبی گذاشته می‌شود**

وزارت معادن و پترولیم معادن طلا و مس زرکشان ولایت غزنی را به داوطلبی می‌سپارد.

کامگار سخنگوی این وزارت روز یکشنبه۲۸ میزان گفت که اولویت به شرکت برتر داده می‌شود.

براساس مقررات دولت، این داوطلبی به صورت عمومی اعلام شده و شرکت هایی که از نظر مراجع رسمی با شرایط اعلام شده بیشتر مطابقت داشته باشد، به عنوان برنده این داوطلبی شناخته خواهد شد. پس از آن مقام ها با شرکت مورد برنده مذاکرات را آغاز خواهند کرد تا زمینه برای امضای قرارداد هموار شود.

وزارت معادن و پترولیم می گوید در زرکشان غزنی به ارزش ۳۰ میلیارد دالر معادن طلا و مس موجود است.

مسئولان این وزارت می‌گویند که اینک فرصت خوب برای بخش خصوصی است تا در این بخش سرمایه گذاری کنند.

**سعودي عربستان کې د کرنيزو محصولاتو نړيوال نندارتون پرانیستل شو**

د افغانستان د سوداګریز بهوالی او کرنیز بازار موندنې یا «CHAMP» موسسې په همکارۍ سعودي عربستان کې د کرنيزو محصولاتو نندارتون پرانیستل شو.

د دې نندارتون په ۱۶ غرفو کې د افغانستان کرنيز محصولات، چې په کې وچې او تازه مېوې، انار، زعفران او طبي بوټي شامل دي نندارې ته وړاندې شوي دي.

د دې نندارتون په پرانیست غونډه کې په سعودي عربستان کې د افغانستان سفیر سیدجلال کریم یادونه وکړه چې د افغانستان محصولات ارګانیک او ښه ذایقه لرونکي دي او سعودي عربستان کولای شي چې زموږ د کرنیزو محصولاتو د پلور ښه مارکېټ شي.

په همدې حال کې د سعودي عربستان د کرنې وزیر عبدالرحمان بن عبدالمحسن الفضلي د نندارتون له پرانیستلو وروسته د افغانستان د کرنیزو محصولاتو له غرفو څخه لیدنه وکړه.

ښاغلی الفضلي په عربستان کې د افغانستان د کرنیزو محصولاتو نندارتون مهم وباله او ژمنه یې وکړه چې په راتلونکو نندارتونونو کې به د افغانستان د کرنیزو محصولاتو لپاره لا ډېرې زمینې برابرې کړي.

---


سرچینې:

۱- د امریکا غږ آشنا راډیو - https://www.pashtovoa.com/a/afghanistan-imf-meeting-nosher/5122157.html

۲- رادیو آزادی / تاریخ نشر: میزان ۲۸, ۱۳۹۸ - https://da.azadiradio.com/a/30225989.html

۳- د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت - https://mail.gov.af/ps/سعودي-عربستان-کې-د-کرنیزو-محصولاتو-نړیوال-نندارتون-پرانیستل-شوه

## د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

# جلسه شورای عالی د افغانستان بانک دایر گردید



شورای عالی د افغانستان بانک، منحیث عالیترین مرجع تصمیم گیری این بانک سومین جلسه نوبتی ربعوار سال مالی ۱۳۹۸ خویش را بتاریخ ۳۰ و ۳۱ سنبله سال ۱۳۹۸ تدویر نمود.

جلسه تحت ریاست محترم واحد الله نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک با حضور سایر اعضای محترم شورای عالی تدویر گردید.

در این جلسه وضعیت اقتصادی افغانستان، چگونگی تطبیق سیاست پولی، عملکرد نظام بانکی و سایر موضوعات مرتبط به نظام مالی کشور به بحث گرفته شد.

در این جلسه محترم نوشیر سرپرست و معاون اول د افغانستان بانک پیرامون دستاورد ها و چالش ها به تفصیل صحبت نموده بعداً طبق پروگرام، گزارش ها و کار کرد های شعبات را استماع و آنرا تحت غور و بررسی قرار داده و در مورد، فیصله های لازم اتخاذ گردید.

# د افغانستان بانک د اسعاري زېرمو د بهیر څرنګوالی

د افغانستان بانک اسعاري زېرمو د ۲۰۰۴ زېږدیز کال راپدېخوا لوړېدونکی بهیر درلودلی دی. په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې د افغانستان بانک ټولیزه اسعاري زیرمې۱.۲۷ میلیارده امریکایي ډالره اټکل شوی ؤ چې د دې مبلغ ۳۰۶ میلیونه خالصه سرو زرو جوړاوه.

دمګړی د افغانستان بانک ټولیزه اسعاري زېرمې شاوخوا ۸.۵۶ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسېږي چې دا مبلغ د افغانستان بانک د اسعاري زېرمو تر ټولو لوړه کچه ګڼل کېږي.

اوس مهال د افغانستان بانک د اسعاري زېرمو پورټوفولیو د رمپ په پروژه کې۲۲.۳۷ سلنه، بی آی اس ۴.۴۳ سلنه، د موده ایزو امانتونو ۴۵.۴۴ سلنه او د پورتوفولیو انډیکس۰.۶۱ سلنې پانګې اچونې جوړوي چې د دې ترڅنګ له هېوادڅخه بهر په بانکي حسابونو کې۵.۱۰ سلنه، په خزانه کې۴.۶ سلنه او د خالصه سرو زرو ارزښت۱۲.۳۲ سلنه دي چې په نړیوال بازار کې د سرو زرو د هر اونس بیه شاوخوا ۱۵۰۲ امریکایي ډالره اټکل شوې ده.

دیادولو وړ ده چې د افغانستان د ریزرف په برخه کې د شته ظرفیتونو په کارولو سره د بازار د عملیاتو آمریت توانیدلی دی چې په نړیوال بازار کې له شته فرصتونو څخه په داسې بڼه ګټه پورته کړي چې له یوې خوا د شتمنیو او پانګو اچونو خوندیتوب تضمین شي او له بلې خوا د افغانستان بانک د پانګه اچونو له لارې لا زیاته ګټه او عواید ترلاسه کړي.

# د عامل پلاوي تر مشرۍ لاندې غونډه





کابل، د ۱۳۹۸ کال د تلې۲ مه — د افغانستان بانک د عامل پلاوي په مشرۍ د دې بانک د بېلابېلو آمریتونو د آمرینو او مرستیالانوګډه غونډه جوړه شوه.

په دې غونډه کې د افغانستان بانک په اډانه کې د اداري اصولو په پام کې نیولو، د مسلکي فضا په رامنځته کولو او د یوټیم په حیث د بانک لومړنیو اهدافو ته د رسېدو په اړه خبرې اترې وشوې.

په یاده غونډه کې د افغانستان بانک سرپرست او لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشېر د بانک اصولو ته پاملرنه د خورا ارزښت وړیاده کړه او دې اصولو ته په ژمنتیايي ټینګار وکړ.

په همدې حال کې د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي هم خبرې وکړې او یادونه یې وکړه چې موږټول د یوټیم په توګه د واحد هدف لپاره کار کوو او په کار ده چې په چارو کې پوره همغږي شتون ولري.

# د پروژې د مسلکي مدیریت درې میاشتنۍ دوره پایته ورسېده

کابل، د ۱۳۹۸ کال د تلې ۲۷ مه - د افغانستان بانک په اډانه کې د دې بانک د کارکوونکو لپاره د PMP درې میاشتنۍ روزنېزه دوره پای ته ورسېده.

په دې روزنېزه دوره کې چې د چنګاښ د میاشتې له لومړۍ نېټې پیل او د وږي میاشتې تر وروستی نېټې یې دوام وکړ، د بېلابېلو آمریتونو ۲۰ کارکوونکو ته د پروژې د مسلکي مدیریت (PMP)په اړه زده کړې ورکړل شوې دي.

د دې روزنیزې دورې د تصدیق پاڼو د وېشلو په مهال د افغانستان بانک د بشري سرچینو لوی آمر ښاغلي بشرمل پسرلي د پروژې د مسلکي مدیریت پر ارزښت خبرې وکړې او یادونه یې وکړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې د خپلو کارکوونکو د مسلکي وړتیاوو د لوړولو لپاره ورته روزنیزې دورې په لاره واچوي.

په ورته وخت کې د معلوماتي تکنالوژۍ لوی آمر ښاغلي عبیدالله عبیدي چې په یاده روزنیزه دروه کې یې ګډونوالو ته زده‌کړې ورکړې دي، هیله وښوده چې زده کوونکي به یې په دې برخه کې خپلې هڅې لا زیاتې کړي او دوی به وکولای شي چې په دې برخه کې له معتبرو نړیوالو مرکزونو د پروژو د مسلکي مدیریت په برخه کې تصدیق پاڼې تر لاسه کړي.

باید وویل شي چې د افغانستان بانک په تېر کې هم د خپلو کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو لپاره دا او دېته ورته روزنیز پروګرامونه په لاره اچولي دي.

# د کرکټ د شپږیزه لیګ له لارې د افغانۍ د دودولو پروګرام




د افغانستان بانک د بهرنیو اسعارو د کارولو د مخنیوي او د افغانۍ د دودولو په موخه د شپږیزه کرکټ لیګ مالي ملاتړ وکړ څو له دې لارې خلکو ته د عامه پوهاوي پیغامونه ورسوي. د دې پروګرام پر بنسټ، د سپین غر زمریانو او د کابل بازانو د لوبډلو لباسونه د افغانۍ د دودېدو په پیغامونو ښکلي او د کرکټ د لوبغالي په بېلابېلو برخو کې د افغانۍ د دودېدو په اړه د عامه پوهاوي بنرونه لګول شوي وو. د دې پړاو د لوبو تبصره کوونکو د لوبو په اوږدو کې د افغانۍ د دودولو په اړه د عامه پوهاوي پیغامونه لوستل.

کرکټ په هېواد کې یوه له ډېرو لیدل کېدونکو لوبو څخه دی چې د افغانستان بانک په باور یاد لیګ د افغانۍ د دودولو او د بهرنیو اسعارو د کارولو د مخنیوي په برخه کې د پیغامونو په رسولو کې ګټور ګڼل کېږي.

د یادولو وړ ده چې یادې شل اوریزه لوبې د شپږیزه کرکټ لیګ په نوم یادېږي او له څو کلونو راهیسې د کرکټ په ډګر کې د تجربو د شریکولو او نویو استعدادونو د پیدا کولو په موخه په لاره اچول کېږي چې سږ کال دا لوبې له ملي تلویزیون څخه په ژوندۍ بڼه خپرېږي.

# اقتصاد نوین جهانی

اقتصاد نوین یا جدید عبارت از گذار اقتصاد جهانی از اقتصاد سخت افزار به اقتصاد نرم افزار و موجودیت کمپیوترها و ارتباطات رو به رشد می باشد. همچنان اقتصاد جدید دارای خصوصیاتی مانند جهانی شدن، نرم افزار شدن و اطلاعات مرتبط و به هم پیوسته که این همه ویژه گی های جدیدی از بازار و جامعهٔ که شبکه های اجتماعی به آن ریشه دوانیده است، می باشد.

شبکه های امروزی که در اثر پیشرفت تکنالوژی توسعه و تکثیر یافته اند، آن چنان تأثیر ژرفی را در زندگی ما گذاشته اند که واژه شبکه های تکنالوژی به محوری تبدیل شده که تفکر و اقتصاد را رونق می دهد. قرن اتوم حالا عظمت خود را از دست داده است، حالا نماد قرن بیست و یکم عبارت از شبکه گسترده جهانی انترنت است که مورد استفاده عام و خاص قرار دارد.

کار اقتصاد جدید را ارتباطات عمیق و گسترده تشکیل می دهد و تمام دگرگونی های حاضر وآینده به مسیر بنیادین ارتباطات بستگی دارد. ارتباطات، بنیاد اجتماع، فرهنگ، انسانیت و هویت فردی ما و تمامی نظام های اقتصادی را تشکیل می دهد.

ارتباطات روز بروز به فرهنگ جامعه ما نزدیک می شود، حتی تبعات تکنالوژیکی و آثار تخنیکی آن فراتر از بخش های صنعتی ما می باشد و تأثیرات فرهنگی، تکنالوژیکی و مفهومی آن، در عمق حیات ما رخنه نموده است. اقتصاد جدید با موجودیت نهادهای مانند اطلاعات، روابط، ارتباطات، حق طبع و نشر، امنیت و ...، سروکار دارد.

اکثر کشورهای پیشرفته اقتصادی، در شرایط کنونی، در حال کم کردن از حجم و وزن برنامه های اقتصادی خود و تغییر جهت به سمت دنیای نرم افزار هستند. اغلب کالاهای صادراتی ایالات متحده تنها طی شش سال یعنی از سال ۱۹۹۰-۱۹۹۶میلادی ۵۰ درصد از وزن خود کاسته است. همچنین، در همین مدت تعداد افرادی که اشیای ملموس یعنی کالا و سخت افزار می ساختند، یک درصد کاهش یافت در حالی که شمار اشخاصی که به ارایه خدمات غیرملموس اشتغال داشتند، ۱۵ درصد افزایش داشته است.

جهان نرم افزار، کمپیوترها، سرگرمی ها و ارتباطات راه دور اکنون به صنعتی به مراتب عظیم تر از تمام زمینه ها وغول های قدیم از قبیل ساختمان، محصولات غذایی یا موتر سازی شده است. برای اثبات ادعای فوق می توان گفت که در چند دهۀ گذشته شرکت جنرال موتورز ثروتمند ترین شرکت دنیا بود، اما سال هاست که شرکت مایکروسافت پرارزش ترین شرکت جهان است.

مایکرو سافت سازنده نرم افزار و جنرال موتورز سازنده سخت افزار است. جانشینی مایکروسافت به جای جنرال موتورز نشان دهندۀ چرخشی در اقتصاد جهانی و حرکت از دنیای سخت افزار به دنیای نرم افزار ها است.

اقتصاد جدید با وجود تفاوت هایش با اقتصاد قدیمی، تنها در یک جنبه هنوز اشتراک دارند. تهاتر که یکی از بدوی ترین اشکال تجارت است، از میان نرفته است. اقتصاد تهاتری در تمام طول عمر زراعتی و عصر صنعتی جاری بوده و امروز هم رواج دارد. بیشتر آنچه روی شبکه گسترده جهانی واقع می شود، در واقع معاوضه و تهاتر است.

اقتصاد شبکه ای، فرصت ها را در مقیاسی که هرگز روی زمین دیده نشده، ایجاد و آزاد خواهد کرد. اقتصاد شبکه ای مرحله ای منحصر به فرد از توسعه اقتصادی است.

ضرورت اصلی و محوری اقتصاد عصر صنعتی، بالا بردن محصولات است. تمام جنبه های یک مؤسسه صنعتی از ماشین های آن گرفته تا ساختار سازمانی آن چنان ساخته شده بود که کارآیی تولید اقتصادی را بالا ببرد، ولی امروز ضرورت اصلی و محوری اقتصاد شبکه ای، تقویت

»

ارتباطات است.

بناءً شبکه ها در واقع ساختاری برای تولید ارتباطات است. شبکه ها، ارتباط و همبستگی را با خود حمل نموده، هر نوع ارتباط در شبکه به میان آورندهٔ یک پیام است. بدین معنی که ارتباطات راه دور و جهانی شدن، حالت عادی ارتباطات را شدت بخشیده و روز بروز افزایش می دهد.

این وضعیت به یک حالت فرا ارتباطی در ورای مسافت های طولانی در تمام اوقات و در هر زمان تبدیل شده و روابط جدید، نقش کارکنان و مشتریان را به هم نزدیک می کند و همچنان بخاطر درهم شکستن روابط قدیمی بین تولید کننده گان کالاها و مصرف کننده گان خدمات ادامه می دهد.

هدف تکنالوژی شبکه ای شده، هوشمندتر کردن مشتری بوده و برنده واقعی در اقتصاد جدید کسی است که هوشمندترین مشتریان را با خود دارد. همچنان یکی از ویژه‌گی های این فرهنگ اقتصادی جهانی، مالکیت غیرمتمرکز و تساوی حقوق ناشی از منابع معرفت و دانایی، به جای منابع پول و ثروت و در این فرهنگ، تاکید بر جامعه باز و از همه مهم تر، اتکای گسترده بر ارزش های اقتصادی، به عنوان مبانی تصمیم گیری در تمامی طبقات و حرفه های اجتماعی است.

منابع پول و سرمایه که در عصر صنعتی در نزد چند بانک و نزد چند فرد سرمایه دار گردآمده بود، اکنون به میلیون ها حساب بانکی، صندوق های تعاونی و سرمایه گذاری های خصوصی در سراسر جامعه تجزیه و تقسیم شده است.

در گذشته، بانکداران، دارایی های خود را وام می دادند و از این وام ها صنعت بیرون می آمد، ولی با افزایش دانش و ارتباطات، سرمایه گذاران دریافتند که مشارکت ها یا سرمایه گذاری هایی که در آن ها سرمایه گذار در ریسک سهیم است در درازمدت، ثروت بسیار بیشتری را عاید می کند.

تکنالوژی، گذر از وام دادن به سوی سرمایه گذاری را شتاب بخشیدن شبکه ها، فرهنگ سهام و سهام داری را تبلیغ می کنند. مالکیت سازمان ها به هزار نقطه و محل تجزیه و تقسیم شده است. مصارف معاملاتی تملک سهام جزء و مشارکت در رؤیاها و بلند پروازی های کسان دیگر چنان رو به سقوط است که مالک شدن بخشی از سهام بسیاری از شرکت ها مستقیم یا غیرمستقیم امر ممکن و شدنی است.

زمانی که در یک صندوق تعاونی سرمایه گذاری می کنیم در واقع در کار صدها هزار نفر از افراد دیگر سرمایه گذاری کرده ایم. ما ثروتی را که ایجاد کرده ایم، بذر تولید بهروزی دیگران می کنیم. ممکن ما تنها بخش ناچیزی از یک تشکیلات بزرگ اقتصادی را مالک باشیم، ولی می توانیم به آسانی مالک بخشی از مؤسسات در مالکیت میلیون ها نفر باشیم و این همان عدالت شبکه ای است. چهره شبکه ها از درون همین مالکیت پراگنده ظاهر می گردد. میلیون ها رشته سرمایه گذاری، سرتاسر این چشم انداز را در می نوردد. معدود افرادی مالک سهام زیادی هستند، ولی اکثریت درآمد سهام به صورت حساب های بانکی کوچک پراگنده میشود.

در چند سال گذشته اروپا ناگهان سیلی از پول را به درون بازار سهام تزریق کرده است. اروپایی ها فرهنگ سهام را کشف کرده و یک شبه، صدها میلیارد دالر از ثروت های بلا استفاده خود را در شبکه مالکیت سهام سرمایه گذاری کرده اند. سرمایه گذاران هم به طور همزمان میلیاردها دالر را به خزانه های بازارهای نوظهور در آسیا و امریکای لاتین واریز کردند. امروز تقریباً هر سرمایه گذار، سهامدار صندوق تعاونی در شرکتی که در خارج از کشور خود فعالیت دارد، سهم یا سهامی دارد که مدیون ارتباطات و اقتصاد نوین است. •

عبدالحفیظ شاهین

منابع:


۱. www.yotube.com عنوان / مستجدات آفاق الاقتصاد العالمی/ لایزال النشاط الاقتصادی العالمی یزداد قوه و تشیر التقدثرات الی نمو النتاج العالمی

THE GENERAL CHARACTERISTICS OF MODERN ECONOMY۲.

پایه های اقتصاد کشور تغییر می کند / تاریخ نشر ۲۲ فوریه ۲۰۱۹ – اقتصاد برتر / / https://عنوان www.eghtesadbartar.com/. -۳

# د هېواد پر اقتصاد د بېکارۍ اغېزې

بېکاري يو له هغو بدو پديدو څخه ده چې د يو هېواد پر اقتصادي وروسته پاتې والي او د وګړو پر ژوند باندې منفي اغېزې لري.

له بده مرغه افغانستان هم يو د هغو هېوادونو له ډلې څخه دی چې د بېکارۍ په ګرداب کې راګير دی. د راپورونو له مخې په افغانستان کې د بېکارۍ کچه شاوخوا ۲۴ سلنه ښودل شوې چې دې شومې پديدې د هېوادوالو په ژوند مستقيمه منفي اغېزه کړې ده او د ژوند سطحه يې دومره اغېزمنه کړې چې شاوخوا ۴۲ سلنه وګړي د فقر تر کرښې لاندې ژوند لري دا او دې ته د ورته ستونزو عامل يوازې او يوازې د اقتصادي او بيخ بنسټيزو پروژو نه شتون دی.

افغان دولت بايد هېواد کې پانګوالو ته د دې زمينه برابره کړي چې دوی په اقتصادي پروژو کې پانګه اچونه وکړي چې پر دې سره به نه يوازې دا چې اقتصادي پرمختګ رامنځه ته شي، بلکې هېوادوالو ته به د کار زمينه هم برابره



شي.

هېواد کې د بېکارۍ لاملونه زیات دي خو ځینې یې دا دي:

- د خصوصي سکتور کمزورتیا: دا په دې معنی چې د تولیدي کارخونو نشتوالی او یا هم په ډېر ابتدایي ډول تولید دی چې له انساني قوې څخه په کې په ډېره کمه کچه کار اخیستل کېږي.
- د وارداتو زیاتوالی او صادراتو کموالی هم د مهمو عواملو څخه شمېرل کېږي چې پدې سره په لویه کچه بېکاري رامنځته شوې. سوداګر د بهرنیو هېوادونو څخه په زیاته کچه مالونه واردوي چې پدې سره داخلي تولید اغېزمن کېږي او کورني تولیدات له بهرنیو تولیداتو او اجناسو سره مقابله نه شي کولی.
- د امنیت نشتوالی د پانګوالو او متشبثینو لپاره ستر ګواښ دی، که چېرې افغان دولت په دې وتوانیږي چې په هېواد کې ټولیز امنیت تأمین کړي، نو پانګه‌وال به هېواد کې په ډاډه زړه سره پانګه اچونې ته زړه ښه کوي چې په پایله کې به دغه متشبثین سترې فابریکی جوړې کړي چې د بېکارۍ په کموالي کې به لویه مرسته وکړي.
- سیاسي بې ثباتي هم یو بل لوی عامل دی چې لویو پانګه والو د فرار او تېښتې عامل ګرځېدلی، که چېرې په هېواد کې د سیاسي بې ثباتۍ مخه ونیول شي، نو متشبثین به په ډاډه زړه سره په هېواد کې پانګه اچونې ته زړه ښه کړي.
- د کورنیو کارخونو کمزوري او دغه راز د معیاری تولیداتو نشتوالی چې د بهرنیو تولیداتو سره سیالي و نه شي کولای او د کارخونو د ماتو لامل کېږي او په پایله کې کارخونې تړل کېږي او هېواد کې د بېکارۍ د کچې د لوړېدو لامل ګرځي.
- د بهرنیو هېوادونو له (Dumping) سیاست څخه د کورنیو تولیداتو په مقابل کې د یوې آلې په توګه ګټه اخیستنه.

له Dumping څخه په نړیواله سوداګرۍ کې هغه وخت ګټه اخیستل کېږي چې یو هېواد بل ته تولید شوي مالونه د نارمل (د تولید شوي) نرخ څخه په کمه بیه صادروي یعنې دا چې صادر شوي توکي په کور دننه د تولید شوو توکو د تمام شوي بیې څخه هم په کم بیه صادره وي. باید وویل شي چې پدې وخت کې کورني تولیدي توکي د وارد شوو توکو سره مقابله نه شي کولای او د کارخونو خاوندان مجبوریږي چې خپل تولیدات بند کړي.

- پاتې د نه وي چې خصوصي سکتور ته د دولت نه پاملرنه هم د تولیداتو د کمښت او بېکارۍ د زیاتوالي لامل ګرځي.

پورته ذکر شوي ټکي په هېواد کې د بېکارۍ اصلي عوامل دي. له همدې امله له افغان دولت څخه مو غوښتنه ده چې دې ټکو ته جدي پاملرنه وکړي چې هېواد مو له شته ستونزو څخه وژغورل شي، هېوادوال مو سوکاله او له خوښیو ډک ژوند ولري او د فقر او بېکارۍ ستونزې و نه ګالي.



عابدالله بیدار
د اطمینان او کیفیت سکشن مرستیال
د ټولو څارونکې اداره

# اهداف عمدهٔ تدویر نمایشگاه های اقتصادی

توسعه صادرات، حفظ بازارهای سنتی و تلاش برای یافتن بازارهای تازه برای صدور کالاها به داخل و خارج کشور و فعالیت های هدفمند و گسترده، اهداف عمدهٔ تدویر نمایشگاه های اقتصادی را تشکیل می دهند.

دولت و بخش خصوصی برای رسیدن به اهداف صادراتی با هماهنگی و یکدلی موانع در این زمینه را رفع کرده و بستر مناسب برای توسعه صادرات را فراهم می سازند. یکی از ابزار مهم برای رونق صادرات و انجام فعالیت مؤثر در تبلیغات و بازاریابی کالاها و خدمات، تدویر نمایشگاه‌ها می باشد.

نمایشگاه‌ها از مؤثرترین ابزار بازاریابی محسوب می‌شوند. اگر برپایی آنها با برنامه‌ریزی و تدارک قبلی صورت گیرد، می‌توانند در توسعه صادرات نقش مهمی را ایفا نموده و صادرکنندگان را نیز قادر خواهد ساخت تا از آن برای پیشبرد فروش اموال تجارتی خود استفاده نمایند. نمایشگاه ها می‌توانند از طُرق مختلف به بهبود اقتصاد کشور کمک نمایند که در زیر به مهمترین آنها اشاره می شود:

شناساندن پیشرفت‌های اقتصادی، اجتماعی، فرهنگی و هنری کشور به جهانیان جهت نمایش قدرت تولیدی کشور، شناسایی بازارهای مختلف جهان، آشنایی با دانش فنی دیگر کشورهای شرکت کننده، ارائه راهکارهای تحقیقی، تجربی و کاربردی استادان و صاحبان مشاغل برای رفع موانع تولیدی و همچنان بازاریابی وسیع برای کالاهای صادراتی کشور از جمله موارد مهم پنداشته می شوند.

همچنان آشنایی تولیدکنندگان با استندردها و معیارهای بین‌المللی تولید و صدور کالا و ارتقای سطح کمی و کیفی تولیدات با رعایت قوانین و استندردهای بین‌المللی، گسترش و تحکیم روابط سیاسی و اقتصادی با سایر ملل، بررسی امکانات سرمایه گذاری های مشترک، به وجود آمدن امکانات لازم برای انجام مبادلات و عقد قرارداد برای فروش تولیدات داخلی، توسعه همکاری‌های لازم در زمینه مبادلات فنی، علمی و تکنالوژیکی و ...، اساس و بنیاد نمایشگاه ها را تشکیل می دهند.

برای دستیابی به اهداف ذکر شده، نقش برگزارکنندگان نمایشگاه‌ها حائز اهمیت است. در بیشتر کشورهای در حال توسعه برگزارکننده گان نمایشگاه ها باید به تمام معیارهای داخلی و جهانی نمایشگاه ها آگاه باشند. از این جهت علاوه بر اهدافی که معمولاً نهادهای خصوصی برگزارکننده نمایشگاه ها دارند از قبیل اجاره غرفه و کسب درآمد، اهداف دیگری را نیز دنبال می‌کنند که مهمترین آنها گسترش روابط سیاسی و اقتصادی با دیگر کشورهای جهان را تشکیل می دهد.

هرچند برگزاری و تدویر نمایشگاه‌ها، آسان به نظر می‌رسد، اما در برگزاری یک نمایشگاه موفق، عوامل و مجموعه‌های مختلفی همکاری تنگاتنگ دارند و به صورت یک زنجیره به هم پیوسته و هماهنگ فعالیت می‌کنند. لذا موفقیت هر بخش یک نمایشگاه مرهون تلاش و همکاری حلقه‌های متعدد همدیگر می‌باشند.

از جمله عوامل تأثیرگذار در موفقیت یک نمایشگاه، عواملی نظیر انتخاب موضوع و مخاطب، موقعیت مکانی مناسب، برخورداری از امکانات، تجهیزات و خدمات و

امکانات بهینه رفاهی و عمومی، توجه مدیران و مسئولان به مقوله نمایشگاه، اطلاع‌رسانی و تبلیغات مؤثر و به موقع، حمایت انجمن ها و تشکل‌های مربوطه و ایجاد تسهیلات و خدمات ویژه برای جذب بازدیدکننده، بسیار مهم هستند.

برپایی نمایشگاه در اکثر کشورهای دنیا با هدف توسعه صادرات و تسخیر بازارهای جهانی صورت می‌گیرد که برای نیل به این مهم، سازوکارها و بسترسازی‌های لازم برای برپایی کارآمد نمایشگاه‌ها به کار گرفته می‌شود.

در حالیکه هنوز اشتیاق دستیابی به نوآوری‌های تازه در علم و صنعت میان صنعتگران، پژوهشگران و... وجود دارد، اما نمایشگاه ها مهمترین مرکز برای تبادل اطلاعات و دست یافتن به پدیده های نوین علم و صنعت و انتقال تکنالوژی است.

در حال حاضر پژوهشگران و صنعتگران ناگزیر هستند برای آشنایی با تکنالوژی های جدید از نمایشگاه‌های خارجی دیدن کنند که این امر نیز مستلزم صرف هزینه سنگینی است، لذا ایجاد انگیزه های لازم برای شرکت تولیدکنندگان خارجی در نمایشگاه های کشور به ویژه نمایشگاه‌های تخصصی، اقدام ارزنده است. برای ایجاد این انگیزه‌ها، تبلیغات مناسب و به موقع درباره برگزاری نمایشگاه‌های تخصصی، در خارج به ویژه صاحبان تکنالوژی جدید هر رشته نمایشگاه، ارائه تسهیلات مناسب برای سفر نیز از جمله ضروریات نمایشگاه ها پنداشته می شوند.

ایجاد فضای آرام برای رقابت، مذاکرات تجاری، دسترسی آسان به ابزار ارتباطی، ارائه تسهیلات گمرکی، بانکی و... از مهمترین وظایف سازمان برگزارکننده نمایشگاه است. پیشرفت‌های بزرگی که در اقتصاد کشور ما ظرف چند دهه اخیر صورت گرفته اثرات خود را در صنعت نمایشگاهی به خوبی منعکس کرده است.

خوشبختانه در این اواخر نمایشگاه ویژهٔ محصولات زراعتی افغانستان در ممبی هندوستان توسط وزارت زراعت، مالداری و آبیاری افغانستان به کمک مؤسسهٔ باغداری تجارتی و بازار یابی زراعتی ادارهٔ انکشاف بین المللی ایالات متحدهٔ امریکا USAID و مسئولین اتاق تجارت و معاون ایالت مهارشترا ( ممبی ) برای مدت دو روز برگزار شد.

از این نمایشگاه که میوهٔ خشک و تازه، نباتات طبی، زعفران و ...، در آن به نمایش گذاشته شده بود، استقبال گرم بعمل آمد. افغانستان در این نمایشگاه به ارزش ۳۰ میلیون دالر قرار داد فروش محصولات اش را بدست آورد.

منابع:

۱- /https://daazadiradio.com/a/ عنوان / نمایشگاه محصولات زراعتی افغانستان در هند / تاریخ نشر / دوشنبه ۸ میزان ۱۳۹۸

2- HTTPS://MAIL.GOV.COM/ تاریخ نشر ۲۲ جون ۲۰۱۹

۳-HTTPS//WWW.USAID.GOV/DR/AFGHANISTAN / تاریخ نشر سه شنبه / فبروری ۲۶ / ۲۰۱۹

# د فارمونو اقتصادي ارزښت

**افغانستان د چرګانو غوښو د تولید په برخه کې په ځان بسیاینې ته نږدې شوی**

د چرګانو او کبانو غوښې د هغو خوراکي توکو له ډلې دي چې لوړ اقتصادي او غذایي ارزښت لري په کم وخت وده کوي او فارم لرونکي کولای شي په لږې پانګې اچونې سره یې د روزنې او پالنې فارمونه رامنځته کړي.

که څه هم په هېواد کې د چرګانو او کبانو روزنه له ډېرې پخوا زمانې په ښاري او کلیوالي سیمو کې دود ده، خو په دې وروستیو کلونو کې د فارمونو په ډول، د چرګانو او کبانو روزنه د خصوصي سکتور او دولت له لوري زیاته شوې ده چې دې چارې په کور د ننه د چرګانو او کبانو د غوښو او چرګانو د هګیو زیاته برخه پوره کړې ده او داسې هڅې روانې دي چې په دې برخه کې به نور پرمختګونه هم رامنځته شي.

افغانستان د چرګانو د روزنې په برخه کې له تېر ۲۰۰۵ زیږدیز کال را په دېخوا ډېر پرمختګ کړی دی. معلومات ښیي چې په یاد کال کې په افغانستان کې په ټولیز ډول د چرګانو ۱۸ سوه لوی او واړه فارمونه شتون درلود، خو اوس د فارمونو دا شمېر شاوخوا ۳۴ زره ته رسېدلی دی او د فارمونو جوړولو دا چاره لا هم په چټکۍ سره روانه ده.

که څه هم په وروستیو کلونو کې په دې برخه کې د لیدنې وړ چارې تر سره شوې دي، خو په کور دننه له دومره هڅو سره سره بیا هم افغانستان نه دی توانېدلی چې په دې برخه کې خپلې کورنۍ اړتیاووې پوره کړای شي او لا هم د چرګانو د غوښو نږدې ۲۰ سلنه برخه یې له بهرنیو هېوادونو افغانستان ته راوړل کېږي.

افغانستان په کلني ډول ۲۹۰ زره متریک ټنه د چرګانو غوښې ته اړتیا لري چې له دې ډلې ۲۱۹ زره متریک ټنه غوښه یې په کور دننه تولیدېږي چې دا د کورنیو اړتیاوو نږدې ۸۰ سلنه پوره کوي.

تمه ده چې په دې برخه کې لا زیاته پانګه اچونه به دا هېواد په نورو هېوادونو پورې له تړلتیا خلاص کړي او د دې غوښو په پار بهرنیو هېوادونو ته له تلونکو اسعارو به مخنیوی وشي.

معلومات ښیي چې دا مهال په کور دننه د چرګانو د فارمونو په برخه کې یوازې د خصوصي سکتور له لوري تر یو میلیارد ډالرو زیاته پانګه اچونه شوې ده او په دې فارمونو کې د ټول هېواد په کچه ۲۴ زره کسانو ته په مستقیم او نږدې ۵۰ زره کسان په غیر مستقیم ډول د دندو زمینې برابرې شوې دي.

د یادونې وړ ده چې په فارمونو کې په مستقیم ډول ښکیل هغه کسان دي چې خپله فارمونه لري او یا هم د کارګرو په توګه په یادو فارمونو کې په دندو بوخت دي او په غیر مستقیم ډول دندې لرونکي هغه کسان دي چې په بازارونو کې د چرګانو غوښې او هګۍ پلوري او یا هم د چرګانو لپاره د خوراکي توکو د برابرولو په برخه کې کار کوي.

په تېرو ۱۸ کلونو کې په هېواد کې د چرګانو د روزنې فارمونه جوړول لویه لاسته راوړنه ده، چې د کارموندنې، اقتصادي ځواکمنتیا، ځان بسیاینې او د اقتصادي ودې او پرمختیا لپاره یې لاره پرانیستې ده.

د چرګانو غوښې او هګۍ د پروټین، شحم، ویټامینونو او منرالونو لرونکې دي چې د انسان روغتیا ته ډېره ګټه لري او د خواړو غوره سرچینه بلل کېږي، څېړنې ښیي

»

چې د دې غوښو او هګیو لپاره د هرې ورځې په تېرېدو سره غوښتنې زیاتیږي او په کار ده چې په دې برخه کې نوره پانګه اچونه هم زیاته شي.

که څه هم په کور دننه په دې وروستیو کې د چرګانو روزنه زیاته شوې ده، خو معلومات ښيي چې لا هم هېواد ته د اړتیا وړ هګیو زیاته برخه د بهرنیو هېوادونو څخه راوړل کیږي.

د دې معلوماتو پر بنسټ په کور دننه د اړتیا وړ هګیو یوازې ۳۶ سلنه تولیدېږي او پاتې نوره برخه یې له بهرنیو هېوادونو راوړل کیږي چې په دې وسیله زیاته کچه اسعار بهرنیو هېوادونو ته ځي.

تمه ده چې په دې برخه کې پانګه اچونه به نه یوازې دا چې د دندو د پیدا کېدو لامل شي، بلکې په دې پار بهرنیو هېوادونو ته د تلونکي اسعار مخنیوی به وکړي او یاد اسعار به په کور دننه ولګول شي چې دا چاره به د خلکو په اقتصادي وضعیت کې د لیدنې وړ پرمختګ رامنځته کړي.

بل لور ته معلومات ښيي چې دا مهال په افغانستان کې د کب روزنې ۲ زره فارمونه فعال دي چې ډېری یې په کندهار، هلمند، ارزګان، ننګرهار، لغمان، بلخ او نیمروز ولایتونوکې دي چې له دې فارمونو څخه په کال کې څه باندې ۱۰ زره ټنه کبان تولیدېږي. په یادو فارمونو کې زیات شمېر کسان په دندو بوخت دي او له همدې لارې د خپلو کورنیو مالي اړتیاوې پوره کوي.

تمه ده چې په دې برخه کې د دولت او خصوصي سکتور له لوري پانګه اچونه به په هېواد کې د کبانو د تولید د زیاتوالي او په کور دننه د په ځان بسیاینې لپاره لاره هواره کړي.

د یادونې وړ ده چې کبان هم له اقتصادي پلوه ډېر ګټور دي، د دوی روزنه په کم ځای او لږ وخت کې تر سره کېدای شي، ناروغی پرې ژر اغېز نه شي کولای، روزنه یې پرمختللو ماشینونو او نورو وسایلو ته اړتیا نه لري او روزونکي یې اړ نه دي چې د کبانو د روزنې پرمهال زیاتې فزیکي چارې تر سره کړي او دې یادو مثبت ټکو ته په کتلو سره ویلای شو چې په دې برخه کې پانګه اچونه پیسې زېږوي او په دې برخه کې پرمختګ مو هېواد په نورو هېوادونو پورې له تړلتیا خلاصولی شي.•

سرچینې:


۱ – د افغانستان د سوداګرۍ او پانګې اچونې اتاق

د خپرېدو نېټه: ۱۳۹۷ لمریز کال

http://www.acci.org.af/da/er.html

۲ – نګاهی به بخش زراعت در سه سال اخیر/ د افغانستان ما ورځپاڼه

د خپرېدو نېټه: 12 جدی 1396 – ضیا دانش

http://www.dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=142195

۳ – چالش‌های سد راه صنعت مرغداری در کشور/ آریانا نیوز

د خپرېدو نېټه: ۲۰۱۹/ اپریل/ ۱۹

https://ariananews.af/چالش٪e2%80%8cهای-سد-راه-صنعت-مرغداری-در-کشور/?lang=fa

۴ –در افغانستان صنعت مرغداری رشد چشمگیری داشته است/ سپوتنیک خبري ویبپاڼه

د خپرېدو نېټه: 01.09.2016

https://af.sputniknews.com/afghan/20160901849258/

۵ – افغانستان د چرګانو د غوښې او هګیو له پلوه ځان بسایني ته نږدې شوې/ ۸ صبح ورځپاڼه

د خپرېدو نېټه: ۹ تله ۱۳۹۷/ جمعه ګل اشرفي

https://8am.af/afghanistan-expects-to-consume-meat-and-egg-eggs/

۶ – د چرګانو فارمونه څرنګه د افغان کورنیو له اقتصاد سره مرسته کوي؟ / دویچه ویله/ DW

د خپرېدو نېټه: ۲۰۱۹/ ۰۳/ ۰۷

https://www.dw.com/ps/د-چرګانو-فارمونه-څرنګه-د-افغان-کورنیو-له-اقتصاد-سره-مرسته-کوي/av-49455266

۷ – د مالدارۍ سکتور ارزښت نږدې ۷ میلیارد ډالرو ته رسیږي/ د کرنې مالدارۍ او اوبولګونې وزارت

# په هېواد کې د کرنيز سکتور څلور کلن مزل

د هېواد د کرنې په سکتور کې د اصلاحاتو راتګ د ۷۰ سلنه وګړو پر ژوند مثبت اغېز کړی او دا اصلاحات د ملي عوایدو د زیاتوالي لامل شوي دي.

د معلوماتو پر بنسټ د هېواد د کرنې په برخه کې په تېرو څلورو کلونو کې د پخوا په پرتله په بې ساري ډول پرمختګ رامنځته شوی او د دې سکتور په بېلابېلو برخو کې د محصولاتو په کچه کې زیاتوالی رامنځته شوی دی.

په دغه سکتور کې ۲.۲۵ میلیون لنډمهالې او اوږد مهالې دندې رامنځته شوې دي او لا هم په چټکۍ سره د دندو د زېږېدو لپاره کار روان دی.

تمه ده چې په دې برخه کې د لازیاتې پانګې اچونې په رامنځته کولو سره به په کرنيز سکتور کې د لازیاتو دندو د پیدا کېدو لپاره زمینه برابره شي او دا چاره به د هېواد په اقتصادي وضعیت کې د مثبت بدلون د راتګ لامل شي.

بلخوا، معلومات ښيي چې د هېواد د کرنیزو محصولاتو په صادراتو کې ۴۰ سلنه او د بهرنو د حاصلاتو په صادراتو کې ۷ سلنه زیاتوالی راغلی دی او داسې هڅې روانې دي چې په دې برخه کې د بزګرانو لپاره لا ډېرې آسانتیاوې رامنځته شي.

په همدې ډول دامهال په هېواد کې د کرنیزو محصولاتو د ساتنې لپار ۴۸۵۰ لويې او وړې سړې خونې جوړې شوې دي چې بزګران د خپلو کرنیزو توکو د ساتنې لپاره ترې ګټه پورته کوي او دې چارې د دوی د کرنیزو توکو د ساتنې په برخه کې زیاتې آسانتیاوې رامنځته کړې دي.

له دې وړاندې د سړو خونو د کمښت له کبله بزګران له لویو ستونزو سره لاس او ګریوان وو او دوی نه شوای کولای چې خپل کرنيز توکي د ډېر وخت لپاره وساتي. دوی اړ وو چې خپل کرنيز محصولات له خوساکېدو او خرابوالي څخه د مخه بیه وپلوري، خو د دې خونو په جوړېدو سره د بزګرانو یاده ستونزه تر ډېره بریده حل شوې ده او دوی له خپلو کرنیزو توکو څخه د پخوا په پرتله زیات عاید ترلاسه کوي.

تمه ده چې په دې برخه کې به د دولت او خصوصي سکتور له لوري لا زیاته پانګه اچونه د بزګرانو په اقتصادي وضعیت کې لا زیات مثبت بدلونونه رامنځته کړي او دا چاره به د هېواد د اقتصادي وضعیت د ښه والي او د صادراتو د زیاتوالي لپاره لاره هواره کړي.

په همدې ډول معلومات ښيي چې د ټول هېواد په کچه په تېرو څلورو کلونو کې د کچالو او پیازو د ساتنې لپاره څه باندې ۳ زره زیرمتونونه جوړ شوي دي چې په دې وسیله د پیازو او کچالو ضایعات له ۴۰ سلنې پنځه سلنې ته راټیټ شوي دي.

د هېواد ډېری وګړي چې په بزګرۍ بوخت دي، په کلیوالو او لرې پرتو سیمو کې لا هم کرنيز محصولات په تېره بیا پیاز او کچالو په سنتي ډول ساتي او دا چاره د دې لامل شوې ده چې د دغو کرنیزو توکو زیاته برخه د وخت په تېرېدو سره له منځه لاړه شي او بزګران له دې لارې ډېر کم عاید تر لاسه کړي.

له نیکه‌مرغه په دې وروستیو کې د دغو کرنیزو توکو د ساتنې په پار جوړ شوي زیرمتونونه د دې لامل شوي چې په دې برخه کې لاهم آسانتیاوې رامنځته شي او بزګران له دې لارې زیات عاید تر لاسه کړي او د پیازو او کچالو د خرابوالي مخنیوی وشي.

بلخوا معلومات ښيي چې په تېرو څلورو کلونو کې د ټول هېواد په کچه ۲۴ متریک ټنه اصلاح شوي تخمونه پر بزګرانو وېشل شوي دي چې دې چارې د هېواد د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي لپاره لاره هواره کړې ده.

د کرنې په برخه کې د اصلاح شویو تخمونو کارونې د هغو تخمونو په پرتله چې اصلاح شوي نه دي، د زیات حاصل لپاره زمینه برابره کړې ده او د طبیعي آفتونو په وړاندې وقایه شوي دي.

تمه ده چې بزګران به مو د دې تخمونو په کارولو سره د خپلو عوایدو د زیاتوالي ترڅنګ د هېواد د اقتصادي وضعیت د پیاوړتیا په برخه کې سهیم شي. په هېواد د کرنیزو محصولاتو د زیاتوالي لپاره د لومړي ځل لپاره کرنیز صنعتي پارک هم جوړ شوی دی چې په مرسته به یې په دې برخه کې ډېر پرمختګونه رامنځته شي او د افغانستان کرنیز توکي به له دې لارې نړیوالو بازارونو ته وړاندې او ور وپېژندل شي.

باید وویل شي چې له دې وړاندې د افغانستان کرنیز محصولات د نورو هېوادونو په نومونو نړیوالو بازارونو ته وړاندې کېدل او دې چارې په دې برخه کې د افغان کرنیزو توکو د سوداګرو لپاره ستونزې جوړې کړې وې او له دې لارې یې ډېر کم عواید تر لاسه کول.

خو په تېرو څو کلونو کې د دولت د هڅو په برکت، دې ته زمینه برابره شوې ده چې د افغانستان کرنیز توکي د دې هېواد په خپل نوم بهرنیو هېوادونو ته صادر شي او افغان بزګران له دې لارې د تېر په پرتله زیاته ګټه تر لاسه کړي.

پاتې دې نه وي چې په تېرو څلورو کلونو کې هېواد د کرنې په برخه کې ډېر نور پرمختګونه هم رامنځته شوي دي.●

سرچینې:


۱ – مجموعه انفوگرافیک دستاوردهای چهار ساله حکومت ۱۳۹۸/ انکشاف زراعت

جمهوری اسلامی افغانستان اداره اتباطات عام و استراتیژیک ریاست تولید و نشرات

#NUG_Archiements

https://www.mail.gov.af/sites/default/files/inline-images/69725047_1388684694621957_4915615457823686656_n.jpg

https://mcit.gov.af/dr

۲ –د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت/ انفوگرافیک‌ها

https://www.mail.gov.af/sites/default/files/inline-images/wzart_zrat_ty_dw_sal_akhyr_3700_bab_sbzkhanh_sakhth_ast.jpg

# په هېواد کې د نوري فايبر پراختيا او د هغې ګټې

د افغانستان ډيجيټل کاسا پروژې په بشپړېدو سره به په هېواد د انټرنټ بيې تر نيمايي را ټيټې شي او د ۹ ولايتونو مرکزونه به له دې شبکې سره ونښلي. دا پروژه د هېواد له مهمو پروژو شمېرل کيږي چې تر ۲۰۲۳ ميلادي کال پورې به بشپړه شي.

د ډيجيټل کاسا پروژې تر چتر لاندې د نوري فايبر شبکه د افغانستان له لارې له مرکزي آسيا څخه جنوبي آسيا ته پراختيا مومي، دغه پروژه په سيمه کې افغانستان د نوري فايبر پر ترانزيتي هب ( مرکز) بدلوي.

د دې پروژې په پلي کېدو ۵۱ ميليونه امريکايي ډالر لګښت راځي چې د نړيوال بانک له لوري ورکول کېږي. بايد ووېل شي چې نړيوال بانک په افغانستان کې د اقتصادي او نورو پروژو د پلي کېدو په برخه کې له تېرو څو کلونو مرستې کوي چې د مخابراتي سکټور او بريښنايي حکومتولۍ وده هم د دې بانک له ډېرې مرستو برخمن شوي دي او دا چاره لاهم دوام لري.

د يادې پروژې موخې د نوري فايبر شبکې حلقوي رينګ تکميلېدل او له دې شبکې سره د هېواد د نهو ولايتونو د مرکزونو نښلول، د هېواد په کچه د انټرنت د بيو راټيټول، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې پانګې اچونې ته د خصوصي سکتور راجلبول، د بريښنايي خدمتونو له لارې د دولتي ادارو د ورتياوو لوړول، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د سکتور لپاره د مقرراتو، کړنلارو، پاليسو جوړول او کتل او څېړل دي.

د يادونې وړ ده چې د نوري فايبر په وسيله د حلقوي رينګ په بشپړېدو سره به د هېواد د ۹ ولايتونو مرکزونه د نوري فايبر شبکې سره وصل شي او دا چاره به د بريښنايي حکومتولۍ په برخه کې پراخې آسانتياوې رامنځته کړي چې په روانو چارو کې به د مثبت بدلون د راتګ لامل شي.

بلخوا معلومات ښيي چې دا مهال په هېواد کې د انټرنټ بيه د نورو هېوادونو په پرتله ډېره لوړه ده، خو د دې پروژې په بشپړېدو سره به د انټرنټ په بيو کې سم په نيمه کمښت راشي او په دې سره به د انټرنټ په لګښتونو کې سپما رامنځته شي او د مشتريانو د زياتوالي لپاره به لاره هواره شي.

پاتې دې نه وي چې په هېواد کې د نوري فايبر شبکې په پراختيا سره په دې برخه کې آسانتياوې رامنځته کيږي او دا چاره په مخابراتي برخه کې د خصوصي سکټور د پاملرنې د جذب لامل کيږي او د نويو دندو د زيږېدو لپاره لاره هواروي.

د نوري فايبر د سيمه‌ييزې شبکې د دې پروژې په بشپړېدو سره د افغانستان کورنۍ شبکې له سيمه ييزې شبکې سره نښلول کېږي، الکترونيکي حکومتوالي ورسره پراختيا مومي، په ادارو کې د ظرفيتونو د لوړېدو لامل کيږي او په دې برخه کې زيات شمېر نورې آسانتياوې هم رامنځته کيږي.

معلومات ښيي چې د دې پروژې په بشپړېدو سره به د نوري فايبر

»

شبکې اوږدوالی له ۴۷۰۰ کیلومترو څخه ۶۲۰۰ کیلومترو ته زیات شي او د نوري فایبر شبکې په برخه کې د خصوصي سکتور پانګونه به ۳۰ میلیونو ډالرو ته لوړه شي.

همدارنګه د موبایل له لارې د یو جي بي انټرنت بیه له (۱.۵) امریکایي ډالرو څخه (۰.۶۵) امریکایي ډالرو ته راټیټېږي او د نړیوال انټرنټ د یو Mbps بیه له ۲۵ امریکایي ډالرو ۱۰ ډالرو ته راټیټېږي چې دا به له هېواد څخه بهرنیو هېوادونو ته د اسعارو له تګ څخه په مخنیوي کې زیاته مرسته وکړي.

په همدې توګه د دې پروژې په بشپړتیا سره به له ګاونډیو هېوادونو سره د نوري فایبر شبکې د نښلېدو نقطې لسو لارو ته ورسېږي چې ورسره به په هېواد کې د انټرنټ له قطع کېدو څخه مخنیوی وشي او په دې برخه کې به هېڅ ډول بندښت نه رامنځته کېږي.

باید وویل شي چې د دې پروژې پر بشپړېدو سره به د یو شمېر دولتي ادارو لپاره د نړیوال انټرنټ بنډویتونه ویېړل شي او په دې برخه کې به زیاتې آسانتیاوې رامنځته شي، د انټرنټ له نړیوالو شبکو د انټرنټي بنډویټونو پېرل له امنیتي پلوه خورا ارزښتمن دي او ادارې کولای شي خپل معلومات په پوره امن سره د انټرنټ له لارې شریک کړي.

تمه ده چې د دې پروژې په تکمیل سره به د انټرنټ د هر ګټه اخېستونکي لپاره د انټرنټ چټکتیا له ۱.۲kbps څخه ۱۰kbps ته لوړه شي. دا مهال په هېواد کې شکایتونه دا دي چې د انټرنټ چټکتیا کمه ده او له انټرنټ ګټه اخېستونکي په دې برخه کې له زیاتو ستونزو سره لاس او ګریوان دي.

باید یادونه وکړو چې د دې لویې پروژې په بشپړېدو سره د هېواد په ۲۵ ولایتونو کې نږدې ۲۵۰ دولتي ادارې د نوري فایبر شبکې له لارې یو له بل سره نښلول کېږي چې د دې پروژې په بشپړېدو سره د برېښنایي حکومتولۍ په برخه پراخ مثبت بدلونونه رامنځته شي او له هغې وروسته به په دولتي ادارو کې ټولې چارې د برېښنايي حکومتولۍ په وسیله تر سره شي.

سرچينې:

۱ – د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت

د افغانستان ډیجتل کاسا پروژه/ احصایه

https://mcit.gov.af/ps/د-افغانستان-ډیجتل-کاسا-پروژه

۲ – تلیکام پیپر

Afghanistan inks USD 51 mln Digital Casa Project deal with World Bank

Wednesday 11 April 2018

https://www.telecompaper.com/news/afghanistan-inks-usd-51-mln-digital-casa-project-deal-with-world-bank--1239740

۳ – نړیوال بانک

Afghanistan Digital CASA 1 Project

https://www.worldbank.org/en/news/loans-credits/2018/03/28/afghanistan-digital-casa1-project

۴ –افغانستان سویلي آسیا

Afghanistan/SOUTH ASIA- P156894- Afghanistan Digital CASA Project - Procurement Plan (Английский)

http://documents.vsemirnyjbank.org/curated/ru/328741533231239065/Afghanistan-SOUTH-ASIA-P156894-Afghanistan-Digital-CASA-Project-Procurement-Plan



**ګرانو هېوادوالو!**

د افغانستان رایجې پیسې او پولي واحد افغانی دي! له همدې امله، د ټولو افغانانو څخه غوښتل کېږي څو په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانیو څخه کار واخلي.

## اطلاعیهٔ د افغانستان بانک

به تعقیب اطلاعیه قبلی؛ د افغانستان بانک یک بار دیگر به اطلاع هموطنان عزیز می رساند که تعدادی از افراد در مرکز و بعضی از ولایات هنوز هم تحت نام تجارت آنلاین فورکس به معاملات مالی اقدام می نمایند. د افغانستان بانک تا اکنون به هیچ فرد یا شرکتی جواز فعالیت آنلاین فورکس را صادر ننموده و فعالیتهای آنها غیر قانونی می باشد. از اینکه داد و ستد با چنین افراد و شرکت ها عاری از خطر نبوده و زیان های مالی برای هموطنان ما به بار می آورد، از هموطنان عزیز جداً تقاضا می نمائیم تا از انجام معاملات با چنین افراد و شرکت ها خودداری نمایند.

د افغانستان بانک در تلاش است تا افرادی که چنین فعالیت ها را راه اندازی می نمایند، شناسایی نموده و به ارگانهای عدلی و قضایی معرفی نماید.

# بانک

ماهنامۀ د افغانستان بانک

سال سیزدهم شماره ۱۴۸، میزان ۱۳۹۸

